د ۸ صبح
د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری
# پښـــــــــتو مجله
لومړی کال ◆ ۴۵ مه ګڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د غبرګولي ۲۹مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

له افغانستان سره د ناټو د غړو هېوادونو ژمنې؛ د ناټو د سرمشریزې په بیانیه کې راغلي: په افغانستان کې د ناټو پوځي ماموریت پای ته رسېدلی، خو ددغه سازمان ملکي ماموریت دوام لري. د ناټو مشرانو ټینګار کړی چې د افغانستان د خلکو، بنسټونو او امنیتي ځواکونو ترځنګ ولاړ دي.

د امریکا ولسمشر، په بروکسل کې وویل: «د ناټو مشرانو په دغه غونډه کې، د افغانستان په هکله مهمې هوکړې وکړې چې ناټو او متحدین به یې، له افغانستانه د خپلو ځواکونو تر ایستلو وروسته، له افغانانو خپل ملاتړ ته دوام ورکوي.»







د مساوات
په لـــور

نن د نړۍ 15 مطرح ورځپاڼې د «د مساوات په لور» کمپاین په ترسره کولو د غښتلو ټولنو د رامنځته کولو او جنسیتي مساوات ته رسېدو په موخه ننګونې او حل لارې وړاندې کوي.

A PROGRAM BY
spark news

arte | The Asahi Shimbun | CORRIERE DELLA SERA BUONENOTIZIE L'IMPRESA DEL BENE | NATION | elDiario.es
elDiarioAR | L'ECONOMISTE | FOLHA DE S.PAULO | ۸صبح | INDEPENDENT
madame FIGARO | Mail&Guardian | L'Orient LE JOUR | SRF 10VOR10 | Tribune de Genève

۸ صبح
دپرون روایت | دنن هینداره | دسبا زیری




# سرکرښې

## د ناټو ژمنې او د افغانستان ننګونې

ناټو سازمان له افغانستان سره د اړیکو په نوي پړاو کې جوته کړې چې په جګړه کې به په مستقیمه توګه ګډون ونه کړي، ځکه د دغه سازمان په اند د افغانستان اوسنۍ جګړه کورنۍ جګړه ده او ددغه سازمان مستقیمې مداخلې ته اړتیا نه لیدل کېږي. دغه سازمان زیاته کړې چې دوی به د افغان دولتي ځواکونو روزنې او مالي ملاتړ ته دوام ورکړي.
د ناټو غړو هېوادونو ژمنه وکړه چې په افغانستان کې به خپلو ډیپلوماتیکو فعالیتونو ته دوام ورکوي او ددغه فعالیت د دوام په اړه د ډاډمنېدو لپاره یې ژمنه کړې چې د کابل د هوايي ډګر د امنیت د ساتلو مالي لګښت ورکوي. ویل کېږي چې ترکیه به د کابل د نړیوال هوايي ډګر د امنیت مسوولیت پرغاړه واخلي.
ناټو سازمان وايي چې تر ډېره به د افغانستان د سولې د بهیر لپاره ډیپلوماتیکې هڅې کوي. ددغه سازمان موخه دا ده چې د افغانستان د ټېرو شلو کلونو لاس ته راوړنې د سیاسي مذاکراتو په هوکړې سره خوندي شي. ناټو سازمان جوته کړې چې په جګړه کې مستقیم رول نه لري او له دې وروسته به افغان ځواکونه په یوازې د هېواد د دفاع لپاره هڅې کوي.
له بلې خوا، د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې سرپرست استازي توماس نیکلسن رویټرز خبري آژانس ته ویلي چې د افغانستان د سولې د مذاکراتو بهیر کرار روان دی چې باید دغه مذاکرات ګړندي شي.
که څه هم د قطر په پلازمیني دوحه کې له اوږده ځنډ وروسته په تېرو دوو اونیو کې د افغان دولت او طالبانو استازیو غونډې کړې دي خو پر مهمو مسایلو تراوسه خبرې نه پیل شوې.
بل لوري ته، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون وايي، د عامه تأسیساتو او بنسټونو ورانول له نړیوالو بشري اصولو ښکاره سرغړونه ده.دا خبره په ټولنیزو رسنیو کې طالبانو ته د منسوبې هغې ویډیو تر خپرېدو وروسته شوې چې د فراه ولایت د انار درې ولسوالۍ له نیولو وروسته د ولسوالۍ ودانۍ په بمونو الوزول کېږي.
اخوا، د افغانستان دفاع وزارت وايي، په ځینو سیمو کې چې افغان ځواکونو تاکتیکي شاتګ کړی، د بېرته نیولو لپاره یې عملیات روان دي چې یو شمېر ولسوالۍ بېرته نیول شوې دي.
که څه هم طالبانو تراوسه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو دغې ډلې له دې مخکې ویلي، عامه تأسیسات نه ورانوي او د ټولګټو پروژو خوندیتوب ته ژمن دي. د یادونې وړ ده چې مخکې ولسمشر محمد اشرف غني هم په ځلونو ویلي چې طالبانو په تېرو ۲۰ کلونو کې د یو میلیارد ډالرو په ارزښت عامه تأسیسات وران کړي او نړیوالې ټولنې هم په طالبانو غږ کړی چې د عامه تأسیساتو له ورانولو ډډه وکړي.
دغو ننګونو ته په پام سره باید افغان دولت هڅه وکړي چې د سولې فرصت له لاسه ورنه کړي او په دې لاره کې لازیاتې او چټکې هڅې وکړي.

# لیکلړ

● ښځه په افغاني ټولنه کې ........ ۱
● په پارلمان کې د افغان ښځو ۲۷ سلنه ونډه؛ د هویت... ........ ۲
● ننګرهارۍ مېرمنې: روانه جګړه د زغملو نه ده، طالبان دې جګړه ودروي ........ ۳
● د تبعیض ضد کمپاین؛ پر افغان نجونو د ترانو ویلو بندیز... ........ ٤
● د رسنیو له لارې د ښځو د غږ پورته کول ........ ٦
● په عربستان کې د پاکستان سفیر: اسلام آباد هڅه کوي... ........ ۷
● په بریتانیا کې د اورګاډي د ورېا ټکټ برابرولو طرحه... ........ ۸
● لنډۍ ........ ۱۰
● مریدنامه ۲۸ ........ ۱۱
● د ناټو مشرانو یو ځل بیا له افغانستان سره د مرستو د دوام ژمنه وکړه ........ ۱۲
● وتلي لرغونپوه، پوهاند محمد رسول باوري د کورونا له امله ومړ ........ ۱۳
● اروپايي پارلمان: په افغانستان کې له بشري قوانینو د سر... ........ ۱٤
● طالبان: په هر نوم چې وي په افغانستان کې د بهرنیو... ........ ۱٥
● بحران څنګه په فرصت واړوو؟ ........ ۱٦
● د ولسوالیو پرلپسې سقوط؛ د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندان... ........ ۱۷
● په هېواد کې د کورونا ویروس پراختیا؛... ........ ۱۸
● د بېنې نړیوال سازمان له افغان حکومته وغوښتل چې د اکسیجن... ........ ۱۹
● د تکواندو افغان لوبغاړي محسن رضایي د آسیا اتلولي وګټله ........ ۲۰

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب
زمان سهیل او نیاز الله اصیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# ښځه په افغاني ټولنه کې



◆ م. ظ. صمیم

که څه هم د اسلام سپېڅلي دین ښځې ته ځانګړی حق او مقام ورکړی چې پر نارینه وو یې د دغو حقونو خوندیتوب لازمي ګرځولی، خو له بده مرغه په افغانستان کې د ښځو حقونو ته دومره پام نه کېږي او په ډېری سیمو کې له ځورونو او تاوتریخوالي سره مخامخ کېږي.

په افغانستان کې ډېری ودونه د سیمه ییزو دودونو له مخې کېږي، نجونې په کمو عمرونو کې ودېږي، کوچنۍ نجونې د دوی له خوښې پرته بوډاګانو ته په نکاح کېږي، نجونې په بدو کې ورکول کېږي او په ټول کې نجونو ته د خپل ژوند ملګري د انتخاب حق نه ورکول کېږي چې په ډېری موردونو کې دا جبري ودونه په ګډ ژوند کې د ستونزو او اختلافاتو لامل کېږي.

نو ددې لپاره چې د ښځې او خاوند ژوند په خوښۍ او له مینې او محبته ډک وي اړینه ده چې میندې او پلرونه د لوڼو په ورکولو کې له ډېرې ځیرتیا کار واخلي، له خپلو لوڼو سره له مشورو او د هلک او د هغه د کورنۍ په اړه له پوښتنو کروېړنو وروسته د نکاح لپاره اقدام وکړي. د اسلامي شریعت او د نړیوال بشري قانون له مخې واده باید د دواړو لوریو په خوښه وي او هلک او نجلۍ باید په دې پیوند رضایت ولري.

د ځینو څېړنو له مخې، په هېواد کې ۳۸ سلنه نجونې د دوی د خوښې پرخلاف ورکول کېږي چې کابو پنځوس سلنه ښځې له خپل کورنۍ ژونده ناخوښې وي. که څه هم په کلیو او بانډو کې د ستر او حجاب له پلوه ښځې د ښارونو په پرتله ډېرې خوندي او قدرمنې دي خو په همدې سیمو کې بیا له هغوی سره د نارینه وو چارچلند د خورا اندېښنې وړ دی؛ ځکه په ځینو سیمو کې ښځې د نارینه وو په پرتله سختو کارونو ته مجبورېږي او کرۍ ورځ په سختو کارونو تېروي. که څه هم په وروستیو کلونو کې د جګړو او ناخوالو له امله د هېواد په ګوټ ګوټ کې په زرګونه مېرمنې کونډې او میندې بورې شوې او دوی دې ته اړ شوې چې د خپلو ماشومانو د پالنې ترڅنګ د دوی د خوړو او اړتیاوو د برابرولو لپاره سختو کارونو ته مخه کړي. خو په ځینو کورنیو کې نارینه د ښځو په وړاندې له تاوتریخوالي ډک چلند کوي او یوازې د کور د خدمتګارې په سترګه ورته ګوري او له بده مرغه په دغه راز کورنیو کې ښځې له خپلو اسلامي او انساني حقونو بې برخې دي. په ډېرې کورنیو کې ښځو ته د مشورې او نظر ورکولو حق نه ورکوي په کوچنۍ تېروتنه یې رټي او آن وهي ټکوي یې چې دا نه یوازې د اسلامي بلکې د انساني اصولو پرخلاف عمل دی.

که څه هم د لیک لوست زده کړه پر نر او ښځه فرض ده خو ډېرې کورنۍ خپلو لوڼو ته دا حق نه ورکوي، په داسې حال کې چې که ښځه لوستې وي او زده کړې وکړي ددې ترڅنګ چې خپلې کورنۍ او ټولنې په تېره بیا مېرمنو ته د خدمت جوګه کېږي له خپلو لومړنیو حقونو هم په ښه توګه خبرېږي او د اسلامي اصولو په چوکاټ کې کولای شي خپل او د خاوند حقوقو ته درناوی وکړي.


په ښارونو کې که څه هم د ښځو د لیک لوست او کار کولو زمینه برابره شوې خو له بده مرغه ترڅنګ یې بربنډتوب او اخلاقي فساد هم زیات شوی چې دا د کورنۍ جوړښت او نوي نسل د روزلو په برخه کې خپل زیانونه له ځان سره لري. نو باید ښځو ته د اسلام په چوکاټ کې خوندي د زده کړو زمینه برابره شي ترڅو په ډاډمنه توګه زده کړې وکړي او په ځینو مسلکي برخو لکه روغتیا او اسلامي علومو کې د ټولنې نورو وګړو ته د خدمت جوګه شي.

ځکه د ښځو بنسټیز حق هغوی ته د خوندي زده کړو د زمینې برابرول دي، همداراز باید د کورنۍ د مهم غړي په توګه د نظر او نیوکې حق ورکړل شي او د کورنۍ جوړښت په برخه کې ورته ونډه ولري. ښځه ددې حق لري چې په ځینو ورځنیو چارو کې تصمیم ونیسي، مینه ورکړل شي او په چارو کې د کور له نارینه وو سره همکاري وکړي. ځکه ښځه، مور، خور، لور او مېرمن ده چې په هر دغه مقام کې د خپل مسوولیت د ادا کولو وړتیا او ظرفیت لري.

که څه هم زموږ په هېواد کې ناامنۍ او بې وزلۍ د ټولنې پر ټولو پرګنو خپل کرغېړن سیورې غوړولي خو له دغو ناخوالو سره سره باید دې چې کورنۍ د ښځو اسلامي او انساني حقونو ته درناوی وکړي ترڅو مېرمنې د راتلونکي نسل په ښه روزلو کې لاپیاوړی رول ولوبوي. په دې هیله چې د هېواد مېرمنې مو په اسلامي سیرت او اخلاقو سنبال او د نارینه وو ترڅنګ د غوره او له فساد پرته ټولنې په جوړښت کې ونډه واخلي.

۱
۸صبح پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۴۵ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۹ مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

# په پارلمان کې د افغان ښځو ۲۷ سلنه ونډه؛ د هویت د بیا ژوندي کېدو فرصت


د اوومې تقنیني دورې د لومړي کال د پیل پر مهال د افغانستان د پارلمان ودانۍ

◆ راپور: حسیب بهش
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

افغان ښځو ته د لومړي لپاره د ډیموکراسۍ په پېر کې پارلمان ته د ورتګ لاره پرانیستل شوه؛ دا د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ وخت او ۱۹۶۳ کال ؤ چې د مډرنې واکمنۍ بنسټ په افغانستان کې کېښودل شو. د محمد ظاهر شاه د پارلمان په ۲۱۶ غړو کې څلورو ښځو ګډون درلود. خو د داوود خان د کودتا او همداراز د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند له لوري د غوییي اومې نېټې د کودتا له امله د پارلمان دروازه د یوې نیمې لسیزې لپاره وتړل شوه او له هغې راوروسته حکومتونو کې هم پارلمان کې د ښځو د حضور لپاره موکه برابره نه شوه. **په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د حکومت په پرځېدو سره، د بُن په ناسته کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان اتم اساسي قانون تدوین شي. د دې کار مسؤلیت د اساسي قانون د تدقیق کمېسیون ته وسپارل شو، چې ۳۵ غړي يې لرل.**

د ۲۰۰۳ کال په نیمایي کې دغه کمېسیون د اساسي قانون د تسوید او تدقیق لپاره بحثونه پیل کړل. محمد اشرف رسولي چې اوس د افغانستان عدلیې وزارت ستر سلاکار دی، په هغه وخت کې د دغه کمېسیون غړیتوب هم درلود. نوموړی د هغو ورځو یادونه کوي چې د اساسي قانون په ۲۲ ماده کې پرې بحث کېده. په هغه ماده کې چې د افغان ښځو د حقونو د خوندیتوب لپاره تضمین بلل کېده، په کې یادونه شوې چې د ښځو او نارینه ؤ په ګډون د افغانستان خلک د قانون په اساس مساوي حقوق او مسوولیتونه لري. رسولي زیاته کړه: «دغې موضوع ډېر بحثونه راپورته کړل، ځکه چې په اسلام کې په دې تړاو توپیرونه او تفاوتونه موجود دي.» د نوموړي په وینا، د ښځو او نارینه ؤ د حقونو د برابرۍ موضوع په اړه څو ورځې بحثونو او خبرواترو دوام وکړ.

**اشرف رسولي وویل: «بالاخره پرېکړه وشوه چې د ښځو او نارینه ؤ په ګډون د افغانستان خلک په اساسي قانون کې مساوي حقونه او مسوولیتونه ولري. ښځې باید په قانون کې مساوي حقوق ولري، ځکه چې انسانانې دي او باید په اساسي قانون کې مساوي حقوق ولري.»**

په قانون کې د دغې مادې په اړه له هوکړې وروسته د افغان ښځو لپاره ډېر فرصتونه برابر شول. د دې په دوام د اساسي قانون د ۸۳ او ۸۴ مادو په اړه د بحث وخت راورسېد؛ هغه مادې چې باید په کې د پارلمان د رامنځته کېدو او د پارلمان د کار څرنګوالی په هکله پکې شوی وی. د افغانستان په پارلمان کې ولسي جرګه او مشرانو جرګه شامل دي. د اساسي قانون په ۸۳مه ماده کې له هر ولایته د ښځو لپاره دوه دوه څوکۍ په پام کې ونیول شوې. رسولي زیاته کړه: «د دغې موضوع پر سر ډېر بحث وشو. ټول په دې نظر ؤ دا چې ښځو زموږ په ټولنه کې ډېر زیانونه لیدلي، باید ورته ځانګړې ونډه په پام کې ونیول شي.»

د حقوقي چارو کارپوه وحید فرزه‌ای وايي، که څه هم په اساسي قانون کې د ښځو د ونډې سلنه نه ده جوته شوې، خو له هر ولایته ښځو ته د دوو څوکیو برخه ورکول دا معنی ورکوي چې ۲۷ سلنه ځانګړې ونډه ورکړل شوې ده. ځینې ولایتونه چې د دوه یا دریو څوکیو برخه ورکړل شوې هلته د ښځو ونډه یوې څوکۍ ته رسېږي. هغه زیاته کړه چې پر دې ونډې سربېره، ښځې په ۷۳ نورو سلنه کې هم د ډېرو رایو په ترلاسه کولو د جرګې ته لار موندلی شي. که په یوه ولایت کې ښځې تر ټولو ډېرې رایې ترلاسه کړي، کولای شي چې ټولې څوکۍ خپلې کړي، خو که هېڅ مېرمن د اړتیا وړ رایو په اخیستو بریالۍ نه شوه، په هغه صورت کې د ښځو ونډه


د افغان مېرمنو د شبکې مشره ماریا اکرمي، د ټول ګډونه سولې لپاره د افغان مېرمنو د یووالي غونډې ته د وینا پر مهال

روښانه ده. ویل کېږي د ولسي جرګې په اوولسم پړاو ټاکنو کې په ځینو ولایتونو کې ځینو مېرمنو د نارینه وُ په پرتله ډېرې رایې ترلاسه کړې. اوسمهال د افغانستان په پارلمان کې ٦٩ ښځینه وکیلانې حضور لري.

په مشرانو جرګه کې هم له ۱۰۲ څوکیو ۳۴ یې انتصابي دي چې ۵۰ سلنه یې ښځینه وُ ته ځانګړې شوې دي. **په پارلمان کې د ښځینه وُ د څوکیو بحث د ټاکنو قانون په ۵۱، ۵۲ او ۵۸مه ماده کې راغلی دی. دغه ګام مرسته کړې چې افغان مېرمنې د ښارني او قانون جوړونې په بهیر کې ونډه ولري او تر یوه بریده یې د جنسیتي برابرۍ لپاره زمینه هم برابره کړې ده. د افغانستان ټولنې ننګونو، ګواښونو او محدودیتونو ته په کتو په ښارني او قانون جوړونه کې د ښځو ونډه د ارزښت وړ بلل کېږي.**

د افغانستان په پارلمان کې ځینې ښځینه غړې په دې باور دي چې د افغانستان دودیزې ټولنې او له خپلو حقونو د ډېرې مېرمنو بې خبرۍ ته په پام سره که څوکۍ اختصاصي نه وی، نو ښایي یوازې یوې او دوو مېرمنو ولسي جرګې ته لاره موندلې وای. د ولسي جرګې غړې شینکۍ کروخېل وایي: «اختصاصي څوکۍ هم خپلې ګټې لري او هم زیانونه. ګټه یې دا ده چې د ښځو لپاره د ګډون فرصت پیدا کوي او د دوی لپاره تجربه شي. زیان یې دا دی چې ضمانت شوی او ښایي هغه مېرمن چې سیالۍ نه شي کولای، وړتیا ونه لري او یا غښتلې نه وي نو د ښځو د حقونو په اړه به د مسؤلیت احساس ونه کړي.»

ځینې ښځینه فعالینې هم په دې باور دي چې د افغانستان په پارلمان کې ښځو ته ځانګړې ونډه ورکول په تېرو دوو لسیزو کې د افغان مېرمنو لپاره له لویو لاسته راوړنو څخه دي. د افغان مېرمنو د شبکې مشرې ماریې اکرمي ویل چې ښځې په تېرو دوو لسیزو کې شته ستونزو ته په کتو سره توانېدلي، د خلکو په استازیتوب پارلمان لاره پیدا کړي. هغې زیاته کړه: «موږ له بده مرغه ولیدل چې هغو مېرمنو ته چې د وزارت لپاره نوماندې وې ستونزې یې په مخکې پرتې وې. دغه بحث د افغانستان ټولنه ناارامه کړې او دا فکر یې رامنځته کړی چې ښځې نه شي کولای رایې ترلاسه کړي.» هغې اندېښنه څرګنده کړه، چې هسې نه د افغان مېرمنو لپاره دغه ځانګړې ونډه د سولې خبرې اترو پر مهال ضایع شي.

**د نړیوال بانک د شمېرو له مخې، افغان مېرمنې د ګاونډیو هېوادونو او آن د پرمختللو هېوادونو په پرتله په پارلمان ډېره ونډه لري. ویل کېږي چې د ایران په پارلمان کې د ښځو ونډه شپږ سلنه، په پاکستان کې ۲۰ سلنه، په چین کې ۲۵ سلنه، په تاجکستان کې ۲۴ سلنه، په ازبکستان کې ۳۲ سلنه او په ترکمنستان کې ۲۵ سلنه ده. په دې توګه یوازې د ازبکستان په پارلمان کې د ښځو لپاره د افغانستان په پرتله ډېر ونډه په پام کې نیول شوې ده.**

دغه مقاله د «جنسیتي برابرۍ» کمپاین د یوې برخې په توګه لیکل شوې ده چې په دغه کمپاین کې ۱۵ خبري او نړیوالې رسنۍ سره راټولې شوي ځو د ستونزو او حل لارو په وړاندې کولو سره دغه ننګونه حل کړي.



## ننګرهارۍ مېرمنې:

# روانه جګړه د زغملو نه ده، طالبان دې جګړه ودروي

◆ **محمد عزیز پردېس**

په ننګرهار کې یو شمېر مېرمنو د نظام، امنیتي او دفاعي ځواکونو او سولې په ملاتړ سوله ییز لاریون وکړ.

د ننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار کې د پیاوړو ښځو شبکې ټولنې په مشرۍ لسګونو مېرمنو د نظام، امنیتي او دفاعي ځواکونو او سولې په ملاتړ سوله ییز لاریون وکړ او د جګړې له ښکېلو خواوو یې د جګړې د درولو غوښتنه وکړه.

دوی چې د نظام او سولې په ملاتړ شعارونه لېږدول په یوه غږ یې له نظام او امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ غبر پورته کړ او له طالبانو یې وغوښتل چې جګړه ودروي او د سولې لار غوره کړي.

لاریون کوونکو مېرمنو له رسنیو سره په خبرو کې وویل چې، مونږ د خپلو امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ کوو او ترڅنګ یې ولاړې یو.

دوی څرګنده کړه چې مونږ سوله غواړو او جګړه دې ژر تر ژره ودرول شي.

دغو مېرمنو همداراز د چټک اوربند غوښتنه وکړه او د جګړې له ښکېلو خواوو یې وغوښتل، لومړی اوربند او بیا د سولې خبرو ته دوام ورکړي چې د افغان وژنې لړۍ ودرېږي.

دغه لاریون داسې مهال ترسره کېږي، چې د ننګرهار په ګډون د هېواد په ډېری ولایتونو کې په دې وروستیو کې جګړې زور اخیستی او د سولې خبرې اترې هم له ناڅرګند برخلیک سره مخ دي.

# د تبعیض ضد کمپاین؛ پر افغان نجونو د ترانو ویلو بندیز څنګه له منځه ولاړ؟

د هېواد د ۵۰ سلنه وګړو په توګه د افغان ښځو ستونزمنه لاره د دې لامل شوې چې د عدالت غوښتنې بریالۍ تجربې ترلاسه کړي. په ۲۰۱۵ کال کې د نجونو زده کوونکو لپاره د پوهنې وزارت طرحه جنجالي شوه. هغه طرحه چې نجونې باید د اسلامي سخت دریځو ډلو په شان تیاره رنګه جامې واغوندي. د مدني فعالینو مبارزه په دې استدلال سره چې دغه جامې افراطیت ته وده ورکوي او د اوړي په ورځو کې په ښوونځیو کې ستونزې زېږوي، پیل شوه.



(د ښوونځي زده کوونکي د ترانې ویلو پر مهال/کابل)
عکاسه اسیه حمزه‌ای/ ۸صبح

◆ راپور: اسیه حمزه‌ای
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

په افغانستان کې اوږدې جګړې ښوونیز بهیر ټکنی کړی دی. له یوه پلوه د واک پر سر جګړه د دې لامل شوې چې ښوونیز او پوهنې سیستم تر سیوري لاندې راولي او له بلې خوا، په اسلامي هېواد کې مذهبي افراطیت د دې لامل شوی چې ځینې ډلې د ښوونیز نظام د ایډیولوژیک جوړونې په لټه کې شي. له سیاسي اړخه افغانستان د نجونو د زده کړو ملاتړ کوي خو له کلتوري پلوه په ځانګړو سیمو کې ښوونځیو ته د نجونو په ورتګ کې محدودیتونه شته دي. که څه هم د افغانستان اساسي قانون پر جنسیتي برابرۍ ټینګار لري، خو په عمل کې د جدي نیمګړتیاوو شاهدان یو. د افغانستان د پوهنې وزارت ویانده نجیبې آرین ۸صبح ته وویل چې اوسمهال په هېواد کې ۹.۷ میلیونه زده کوونکي موجود دي چې ۴۲ سلنه یې نجونې دي. همداراز له ۳.۷ میلیونه هغو ماشومانو چې له ښوونځیو بهر دي، شاوخوا ۶۰ سلنه یې نجونې دي. آرین په ټینګار سره وایي چې په سویلي او ختیځو ولایتونو کې ډېری نجونې له لیک لوستې بې برخې دي. د دغو محرومیتونو لامل نا امني، سیمه ییز او قومي دودونه او رواجونه دي. قومي په دې معنی، ډېری هغه سیمې چې د طالبانو له لوري کنټرولېږي په یوه ځانګړي قوم پورې اړه لري. طالبان له دې سره موافق نه دي چې نجونې دې ښوونځیو ته لاړې شي او له کړنو یې ښکاري، په هغو سیمو کې چې د دوی تر ولکې لاندې دي لا هم هېڅ بدلون نه دی راغلی. آن که کورنۍ هم وغواړي، خو طالبان اجازه نه ورکوي. سره له دې چې په تېرو ۲۰ کلونو کې ښوونځي رغول شوي، خو طالبان ښوونځي هم ویجاړوي.

د هېواد د ۵۰ سلنه وګړو په توګه د افغان ښځو ستونزمنه لاره د دې لامل شوې چې د عدالت غوښتنې بریالۍ تجربې ترلاسه کړي. په ۲۰۱۵ کال کې د نجونو زده کوونکو لپاره د پوهنې وزارت طرحه جنجالي شوه. هغه طرحه چې نجونې باید د اسلامي سخت دریځو ډلو په شان تیاره رنګه جامې واغوندي. د مدني فعالینو مبارزه په دې استدلال سره چې دغه جامې افراطیت ته وده ورکوي او د اوړي په ورځو کې په ښوونځیو کې ستونزې زېږوي، پیل شوه. دغه

ټکي تـه باید اشاره وکړم چې د افغانستان ښوونځي د ژمي پـه درېیو میاشتو کې رخصت وي؛ ځکه چې ښوونځي ډېر لـه کاره لوېدلي او ساړه وي. مبارزه د دې لامل شوه چې پوهنې وزارت لـه خپلې پرېکړې راوګرځي او تکرار یې هم نه کړي؛ کـه څه هم دودیزه ټولنه لا هم نجونې محدودویت تـه اړ کـوي. د خپلو سترګو لیدلی هغه حال درسره شریکوم چې پـه ۲۰۱۷ کال کـې د ننګرهار پـه مرکز جلال آباد کـې ورسره مخ شوم. په هغې ۴۰ درجه لرونکي هوا کې نجونو اوږده کالي او داسې پوړني پر سر کړي ؤ چې آن مخونه یې ورته پوښلي ؤ. خو نن پـه افغانستان کـې د جنسیتي برابرۍ لپاره مبارزو نوی رنګ راوړی چې، «د پوهنې ترانې ویلو» کمپاین یې یوه بېلګه ده. د ۱۳۹۹ کال پـه کب میاشت کـې پـه افغانستان کـې داسې پېښه رامنځته شوه چې په ښوونیز چاپېریال کې د جنسیتي برابرۍ د ټینګښت لپاره د اعتراضي کمپاین د پیل لامل شوه. هغه کمپاین چې د افغان مېرمنو غږ یې پورته کړ او د افغانستان دولت او طالبانو ترمنځ د مذکراتو پـه درشل کـې یې د ښځو غږ خو برابره کړ. د پوهنې لـه یوه ریاسته مکتوب صادر شو او په هغه کې اعلان وشو چې لـه ۱۲ کلنو پورتـه نجونو لـه خوا پـه عمومي او هغو غونډو کې چې نارینه پکې ګډون ولري د ترانو ویل منعه دي.

دغه طرحه لـه جدي نیوکو سره مخ شوه او ټولنیزو او مدني فعالینو «د پوهنې د ترانو ویلو کمپاین» پیل کړ. نیوکې او اعتراضونه پـه آنلاین ډول او د ټولنیزو رسنیو لـه لارې ؤ. لـه یوه مورد پرته، د کورونا وبا لـه امله لاریون او راټولېدنې ترسره نه شوې. داسې خود جوشه کمپاین چې هېڅوک نـه شي کولای د مشرۍ ادعا یې وکړي. له ۱۰۰ ډېرو ښځو د کمرو مخې تـه د ماشومانو ترانو ویلو او پـه ټولنیزو رسنیو کې پـه خپرولو سره پـه دې کمپاین کې برخه واخیسته. له دې کمپاینـه عمومي ملاتړ پراخ ؤ او اوږدمهاله اغېزې یې درلودې. پوښتنه دا وه چې ولې ښځینه زده کوونکې د ترانې ویلو اجازه نـه لري؟ لـه ۹۰مې لسیزې او د طالبانو لـه دورې ۲۰ کاله تېرېږي او د افغان مېرمنو لپاره لـه دوو لسیزو هڅو وروسته ولې یوه نجلۍ دا اجازه نـه لري چې ترانه ووایي؟ دغه نیوکې د حکومت د ستراتیژیک شاتګ لامل شوې. پوهنې وزارت اعلان وکړ چې، «دغه طرحه د پوهنې وزارت رسمي دریځ او پالیسي نـه منعکسوي.» لـه هغې وروسته د افغانستان د ولسمشر سلاکار وحید عمر په تونډ غبرګون کې وویل: «هېڅ شخص یا بنسټ اجازه نه لري چې د اساسي قانون د روحیې خلاف د افغانستان د اوسېدونکو لپاره حدود وټاکي.»

فریحې ایثار د پوهنې ترانې ویلو د کمپاین پر مهال مدني فعالیت درلود او د کمرې مخې تـه یې ترانه وویله، هغه پـه دې اړه وایي: «له جوماتونو سره د ښوونځیو د زده کړو د لومړیو درېیو کلونو یوځای کولو طرحه (دغه طرحه شاوخوا درې میاشتې وړاندې لـه لومړي تر درېیمو ټولګیو زده کوونکو لپاره مطرح شوه. د دې تصمیم لامل د طالبانو پـه څېر اسلامي راډیکالو ډلو تـه د نفوذ زمینه او د دوی پر وړاندې نرمښت ؤ خو د افغانستان مدني ټولنې د آنلاین مبارزې څپو سره دغه طرحه لغوه شوه. د پوهنې وزیرې لـه یاد تصمیمه له شاتګ وروسته استدلال وکړ چې غلط پوهاوي رامنځته شوي او د دې طرحې موخه پـه هغو سیمو کې زده کړو تـه د زده کوونکو لاسرسی ؤ چې د ښوونځیو لـه نشتون سره مخ دي. بالاخره د دغې طرحې د عملي کېدو چاره پـه بشپړ ډول ودرېده.) لـه ۱۲ کلنو پورتـه نجونو باندې د ترانو ویلو بندیز هغه دوه تصمیمونه ؤ چې د افغانستان د ښوونیز سیستم د راډیکالیز او طالبانیز کولو لپاره د هڅو یادونه کوي. (افغانستان پـه ۹۰مه لسیزه کې د طالبانو د ترهګرې ډلې د واکمنۍ شاهد ؤ او اوسمهال د بهرنیو ځواکونو پـه وتلو سره او پـه دې هېواد کې د کورنۍ جګړې پـه پراختیا سره هم د ځانګړو کړیو پـه چوکاټ کې د یادې ډلې د نفوذ پـه اړه جدي اندېښنې موجودې دي). مورږ پـه دې اړه چوپتیا نشو غوره کولای. چیغې وهو او د پوهنې پـه سیستم کې د افراطي روایتونو د نفوذ مخه نیسو. څوک غواړي مورږ لـه منځه یوسي؟ مورږ پـه دې کمپاین کې بریالي شوي یو خو د جنسیتي برابرۍ د رامنځته کولو لپاره باید لا بنسټیز پروګرامونه ولرو چې سیاسي تصمیمونه ښځې لـه منځه وړلو سره مخ نه کړي.»

پـه دغه کمپاین کې د ښوونځي د یوې زده کوونکې غبرګون پـه زړه پوري ؤ. میترا امیري وایي: «څومره ښه شو چې دغه طرحه لغوه شوه، زه او خو ټولګیوالې مې لېوالتیا لرو چې پـه ازاده توګه ترانې ووایو، کله چې نارینه ترانې ویلای شي نـو نجونې ولې دا کار نـه شي کولای؟؟»

خو هغه څه چې مهم دي، باید له ټولو مخکې له ستونزو سره باید څه وکړو؟ غلام دستګیر منیر د ښوونې برخې لـه متخصصینو څخه دی چې پـه پوهنیز نظام کې اوږده مخینه لري، منیر وایي چې پـه جوماتونو کې د ماشومانو د لوست او زده کړې او د ترانې ویلو د بندیز پـه څېر افراطي طرحو پر وړاندې یې جدي نیوکې لرلې دي او همدا نیوکې یې د دندې د ځنډېدو لامل شوې دي. د نوموړي پـه باور، پـه پوهنیز نظام کې جدي ستونزه دا ده چې څوکۍ د تخصص پر بنسټ نـه بلکې د سیاسي اړیکو پر بنسټ وېشل کېږي او د جنسیتي برابرۍ رامنځته کولو او د پوهنیز سیستم غیر سیاسي کولو لپاره باید ګومارنې د سیاسي تعلقاتو پر بنسټ ونه شي.

د پوهنې د ترانې ویلو کمپاین د جنسیتي برابرۍ پـه موخه پـه افغانستان کې لـه بریالیو مدني اعتراضونو څخه ؤ. دغه کمپاین حکومت دې تـه اړ کړ چې د تبعیض او د ترانې ویلو د بندیز پـه اړه خپله پرېکړه بېرته واخلي. د کمپاین پایله دا وه چې پوهنې وزارت اعلان وکړ: «دغه وزارت هوډ نه لري د زده کوونکو قانوني او تعلیمي حقونه محدود کړي.» خو پـه ښوونیز چاپېریال کې د جنسیتي برابرۍ لپاره لا جدي ګامونو تـه اړتیا ده چې باید پورته شي. ښایي پـه لومړیو کې ترټولو مهمه حل لاره د کورنیو او په ځانګړې ډول په لیرې پرتو سیمو کې د کورنیو لپاره د عامه پوهاوي مسئله وي چې وهڅول شي، نجونې پـه ښوونځیو کې شاملې کړي. بل مهم ټکی دا دی چې دولت باید د ښځینه ښوونکو د ډېروالي لپاره تګلاره عملي کړي. دا چې پوهنیز سیستم د سیاست او دیني افراطیت لـه اغېزو پاک پاتې شي نـو اوږدمهاله او ټـول اړخیز پروګرام تـه اړتیا ده چې باید د افغانستان د ټولنیزو فعالینو لخوا پـه دې برخه کې ناغېرې ونه شي.

**دغه مقاله د «جنسیتي برابرۍ» کمپاین د یوې برخې پـه توګه لیکل شوې ده چې پـه دغه کمپاین کې ۱۵ خبري او نړیوالې رسنۍ سره راټولې شوې څو د ستونزو او حل لارو پـه وړاندې کولو سره دغه ننګونه حل کړي.**

# د رسنیو له لارې د ښځو د غږ پورته کول

◆ سارا سمېټ (سويلي افريقا)

د سويلي افريقا د غير انتفاعي رسنۍ په وینا یوې مېرمنې د یوې ډلې په جوړولو سره اطلاعاتي مرکز چې ښځو ته ځانګړی شوی جوړ کړی او دغه ښځې چمتو دي چې خبرې او کار وکړي؛ خو دوی غواړي چې غږ يې واورېدل شي. هغوي په دې لټه کې دي چې په رسنيو کې جنسيتي نيمګړتيا له منځه يوسي.

کتي مګروبي وايي: «له ډېرې مودې راهیسې ورځپاڼې د خلکو لپاره د باور وړ رسنۍ دي؛ خو د ښځو نظريات او کار ډېر کم پکې ترسترګو کېږي. موږ فکر وکړ چې دغه تشه ددې لامل ګرځي چې د ورځپاڼو چلوونکو له لوري جدي عکس العمل وليدل شي؛ خو د دې قضيې له برعکس چلند سره مخامخ شوو.»

۵۰ کلنه مېرمن مګروبي د رسنيو د ستراتيژۍ جوړونکې په توګه کار کوي. هغې په ۲۰۱۹ کال کې يوه غير انتفاعي موسسه جوړه کړه چې په کې د اطلاعاتو يو آنلاين يا پر ليکه مرکز موجود ؤ او د متخصصو، څېړونکو او د ادارو د مديرانو له لورې يې چارې ترسره کېدې او تقريبا يوې خبري خونې ته ورته وه. دغه موسسه په وړيا توګه فعاليت کوي او موخه يې په ورځپاڼو او رسنيو کې د ښځو د ځای او ونډې غښتلي کول او همداراز د سويلي افريقا د وګړو له واقعي شمېرې د ريوټونو برابرول دي.

هغې وويل: «زه په رسنيو کې د ښځو له موقعيته په بشپړه توګه خبره وم، کله به مې چې يوه ورځپاڼه اخيسته او لوستله به مې او يا هم د خبرونو لوستلو لپاره به مې آنلاين رسنيو ته مخه کوله او يا به مې راډيو اورېدله، نو تل به له راډيو د نارينه ؤ غږ پورته کېده او ځو ځو ځله به د دوی خبرې او نقل قولونه خپرېدل.»

د ښځو د اطلاعاتو مرکز په وينا، سره له دې چې په کلتوري او رسنيزو چارو کې لوستي، د قلم خاوندانې او متخصصې مېرمنې موجودې دي؛ خو اوس هم په رسنيو کې د دوی ونډه کمه ده.

**ځانګه**

په ژوهانسبورګ کې مېشت نادولتي بنسټ تېر کال په سويلي افريقا د کورونا ويروس په هکله يو راپور برابر کړ. دغه څېړنه ښيي چې ښځې يوازې ۲۱ سلنه ټولې سرچينې په واک کې لري. د بېل ګېټس او ملېنډا بنسټ په يوه بل راپور کې د کورونا ويروس پر مهال په خبري پوښښونو کې د ښځو د حضور په اړه څېړنه کړې وه چې په هغه راپور کې تر ډېره د نارينه ؤ نظرونو ته پاملرنه شوې وه. دغه مقاله په سويلي افريقا، هند، کينيا، انګلستان او امريکا کې خپره شوه.

د دغې څېړنې پر بنسټ ۱۹ سلنه ښځو د کوويډ ۱۹ ناروغۍ پر مهال ۱۷۵ مقالې په شپږو هېوادونو کې په لوړ معيار سره ورانديې او خپرې کړې چې په ټوليز ډول ټولې مقالې ۴۴ زره وې



کتي مګروبي

او په دغو راپورونو کې په امريکا کې د نارينه ؤ په پرتله ښځو پنځه برابره په لږه کچه خبري پوښښ لرلی دی. همداراز په سويلي افريقا او نايجريا کې په رسنيو کې د نارينه وو په پرتله ښځې کابو ځلور برابره کمې او په هند، کينيا او بريتانيا کې تقريبا درې برابره کمې ليدل شوې دي.

په دې راپور کې همداراز راغلي: «د کوويډ ۱۹ په خبري پوښښ کې د هرې ښځې غږ لږترلږه د دريو، ځلورو او يا پينځو نارينه ؤ سره غلی شوی او ټول اطلاعات او مقالې يې په پام کې نه دي نيول شوي.دا په داسې حال کې ده، ددې پر ځای چې د يوه راپور د ليکوالې/ليکوال نوم او اعتبار ته ارزښت ورکړل شي، قرباني او يا پر اخته شوې ناروغۍ ته تر ډېره پاملره شوې ده.»

مېرمن مګروبي زياتوي: «کله چې رسنۍ د يوې ټولنې ترټولو مهم رکن دی او په اطلاع رسونه او د نارينه ؤ په پرتله ښځو ته د ونډې ورکولو په برخه کې په مساوي توګه کار نه کوي، نو په دې صورت کې د ټولنې نيمايي برخه غيرفعاله ده او په سمه توګه ترې ګټه نه اخيستل کېږي.»

**ستاسو د غږ اورېدل**

مېرمن مګروبي وايي: «کله چې ښځې په رسنيو کې خپل ځای نه لري، نو يوازينی لامل يې جوړښتي نابرابري او داخلي تعصبونه او توپيري چلند دی.»

خو په واقعيت کې د سويلي افريقا بنسټونه، رسنۍ او د ورځپاڼو چلوونکي هڅه کوي چې خپل سرونه له اوبو اوچت وساتي او ډېر احتياط کوي، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ډېرې خبري

خونو په خبر چې د کوویډ ۱۹ خبرونه یې نور هم ستونزمن کړي دي. «د ورځپاڼو چلوونکي ډېره هڅه کوي چې له ډېرو سره اړیکه ونیسي او د خبري خونې له چاپېریاله بهر ولاړ شي.»
مېرمن مګروبي زیاتوي: «دا په دې معنی ده چې د ورځپاڼو چلوونکي غواړي چې له کارپوهانو او سرچینو سره یې په خبرو کولو او مرکو کې د ښو راپورونو په لور لاره پرانیزي چې آن سرچینې او کارپوهان هم د نارینه ؤ له غږونو سره ډېره مرسته کوي.»
د مګروبي په وینا، ډېرې ډلې د رسنیو په لابي کولو سره هڅه کوي چې د رسنیو دننه جنسي تعادل وساتي او د اطلاعاتي مرکز په برخه کې د ښځینه مشرانو حضور ډېر شوی دی.
نوموړې هغوی ته په خطاب کې وایي چې نظریات یې ډېر مهم دي او هڅه دې وکړي چې له رسنیو سره مرکې وکړي، ځکه د نارینه ؤ ترڅنګ یې غږ دغه تشه ډکولای شي، د مرکو پر مهال به په خپلو نفسونو بشپړ باور پیدا کړي، د خپل غږ د کارولو په ارزښت باید پوه شي.
مګروبي وایي چې په خپل ټول ۵۰ کلن عمر کې یې هېڅکله دومره سخت کار نه دی کړی. «زه مینه لرم چې هره ورځ داسې ژوند وکړم، ۵۰ کلن عمر ماته ډېر څه راښودلي او هیله مې لرله چې دغه هڅه مې ډېره وختي پیل کړې وای. دغه مسائل مې د خپل ژوند په کرښلاره کې چې خپله مې د ځان لپاره جوړه کړې وه نه ؤ؛ خو اوس له دې وضعیته راضي یم.»
د مېرمن مګروبي لور جرډن مګروبي له دې سره مرسته وکړه، داسې اطلاعاتي مرکز جوړ کړي چې څه باندې ۳۵۰ د فکر خاوندانې، کارپوهانې او فعالې مېرمنې په آنلاین ډول او له ۴۷۰ پورته ورځپاڼې چلوونکې مېرمنې په حضوري توګه له دوی سره کار وکړي.
په ټوله نړۍ کې د کوویډ ۱۹ ناروغۍ له خپرېدو وروسته مګروبي له ډېرو مالي ستونزو سره مخ شوې او دغه مالي ستونزې د دې لامل شوې چې د اطلاعاتو په مرکز کې کاري وضعیت ته زیان ورسېږي. مګروبي وایي: «دغه وضعیت زما لپاره ډېر ستونزمن دی، دا چې د چاپېریال د کړکېچن وضعیت له امله مو کار د خرابېدو په لور روان دی.»
له ټولو مالي ستونزو سره سره بیا هم د ورځپاڼو چلوونکي په پوره مینې د اطلاعاتو په مرکز کې خپل کار ته دوام ورکوي.
«په همدې اساس له ټولو هغو فعالو مېرمنو چې د رسنیو په برخه کې کار کوي، غوښتنه کوم چې ډېر کار وکړي، د هغو وګړو لپاره چې تمه ده په راتلونکې کې له موږ سره یوځای شي ځای ورته تش شي او هغوی د لویو کارونو په کولو بریالۍ شي.
د هغوی په هڅو سره موږ د یوه نسل غږ د ټولو وګړو تر غوږونو رسولی شو.»

**دغه مقاله د «جنسیتي برابرۍ» کمپاین د یوې برخې په توګه لیکل شوې ده. په دې کمپاین کې ۱۵ خبرې او نړیوالې رسنۍ سره راټولې شوې چې د ستونزو او حل لارو په وړاندې کولو دغو ننګونو ته د پای ټکی کېږدي.**

# په عربستان کې د پاکستان سفیر: اسلام آباد هڅه کوي طالبان خبرو ته حاضر کړي



♦ د ۸صبح پښتو مجله

په سعودي عربستان کې د پاکستان سفیر وایي چې اسلام آباد هڅه کوي چې په افغانستان کې د سیاسي هوکړې لپاره طالبان مذاکراتو ته حاضر کړي. په عربستان کې د پاکستان سفیر بلال اکبر د غبرګولي په شلمه نېټه، د افغانستان، پاکستان او عربستان د علماو په درې اړخیزه ناسته کې وویل چې دا هېواد د افغانستان له سولې ملاتړ کوي او سولې ته د افغانستان د رسېدو لپاره هڅې کوي.
نوموړي وویل: پاکستان د افغانستان د نږدې ګاونډي په توګه د سولې د ټینګښت لپاره جدي هڅې کوي. د هغه په اند په افغانستان کې سوله په پاکستان کې د سولې په مانا ده.
ښاغلي اکبر ټینګار وکړ چې د افغانستان ستونزه پوځي حل لاره نه لري او باید دا کشاله د خبرو له لارې حل شي.
په سعودي عربستان کې د پاکستان سفیر زیاته کړه چې هېواد یې له آزاد، خپلواک او دیموکراتیک افغانستانه ملاتړ کوي. هغه له نړیوالو وغوښتل چې له افغانستان سره د تلپاتې سولې په ټینګښت کې مرسته وکړي. بلال اکبر په غیر مستقیم ډول د افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب وروستیو څرګندونو ته په اشارې سره وویل چې سولې ته د زیان رسوونکو مخه باید ونیول شي.
ښاغلي اکبر وویل چې پاکستان نه غواړي په افغانستان کې یو ځل بیا د ۱۹۹۰ کلونو تجربه تکرار شي.
په عربستان کې د پاکستان سفیر ټینګار وکړ چې هېواد یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او وایي چې په افغانستان کې باید تاوتریخوالي پای ته ورسېږي او ټول ګډونه سوله رامنځته شي.
د یادولو وړ ده چې د افغان دولت او طالبانو مرکچي پلاویو په دوحه کې د سولې مذاکراتو پر دوام ټینګار کړی دی.
د افغانستان، پاکستان او عربستان دیني علماوو په داسې حال کې د ښکیلو لوریو ترمنځ د خبرو پر اهمیت ټینګار کړی چې په هېواد کې جګړې زور اخیستی دی.

# په بریتانیا کې

## د اورگاډي د وړیا ټکټ برابرولو طرحه «د ژوند ژغورنکې»


په ساري سیمه کې د ښځو د امن ځای اجرایي مدیره، شارلوت نیر
عکس: پال کریگي

**◆ مایا اوپنهایم، اینډیپنډنټ (انگلستان)**

په بریتانیا کې د اورگاډي یوه مخکښه طرحه د کورني تاوتریخوالي له قربانیانو سره مرسته کوي چې له وړیا سفره په گټې اخیستو امن ځای ته وتښتي؛ دا د ډېرو وگړو لپاره د ژغورنې کړۍ ده چې پرته له دې یې تېښته نشوه کولای.
اوا [مستعار نوم] وایي: «کله مې چې پرځان تېري کوونکی پرېښود، ۱۰ پونډه [۱۴ ډالر] مې له ځان سره لرل.» هغې زیاته کړه: «د اورگاډي وړیا ټکټ، زما خوندیتوب تضمین کړ. نېوهېدم چېرته روانه وم، خو پر نفس د باور احساس مې کاوه. ماشومانو مې یې له گړندي تلو خوند اخیست. لومړی ځل ؤ چې هغوی په اورگاډي کې سفر کاوه. اوس احساس کوم چې ژوند مې له سره پیل شوی دی.»
اوا له کورني تاوتریخوالي یو ژغورل شوی غړ دی چې د خپل ژوند له تاوتریخوالي زېرووونکي شریک څخه په تېښتې او امن ځای ته په پناه وړلو سره په بریتانیا کې ورته د اورگاډي وړیا ټکټ ورکړل شو. دغه طرحه د تېر کال په مارچ میاشت کې د «Rail to Refuge» په سرلیک سره د هېواد په گوټ گوټ کې پلې شوه. له دې اورگاډي څخه د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه لگول شویو بندیزونو له امله د کورني تاوتریخوالي د زیاتوالي له امله په پراخه کچه گټه اخیستل شوې ده.
شمېرنې ښیي چې یو زر او ۳۴۸ تنو له دې پروگرامه گټه اخیستې ده چې په منځني ډول د ورځې له کورني تاوتریخوالي څخه څلور تنه ژغورل شوي دي. که څه هم دغې طرحې له ۳٦۲ هغو ماشومانو سره چې عمرونه یې له ۵ کلونو پورته ؤ، مرسته کړې وه او تمه وه چې د روان کال په وري میاشت کې پایته ورسېږي، خو اوس هم دوام لري.
اوا چې له دې مخکې یې په NHS (د بریتانیې روغتیایي ملي خدمتونو) کې یې کار کاوه، وایي د خپل ژوند د مخکیني شریک له خوا یې په جسمي، عاطفي، مالي او جنسي توگه ناوړه گټه اخیستل شوې ده.
اوا وویل چې تر دې دمه یې د ژوند شریک د جبري کنټرول او جنسي تېري په جرم د پولیسو له خوا تورن شوی دی.
دغه ۳۷ کلنه ښځه زیاتوي: «هغه هره ورځ د جنسي اړیکې په تمه ؤ، که به ما ورته زمینه نه برابروله نو هغه به تله او څو ورځې به نه راستنېده او زه به له خپلو ماشومانو سره پرته له خوړو پاتې کېدم، هغه غوښتل چې زه جنسي اړیکه پیل کړم، نو که زه ویده هم وم نو باید ویښه شوې وای.»
اوا د تېر کال په وري میاشت کې د کورونا ویروس له محدودیتونو وړاندې له خپلو دوو ماشومانو سره د خپل ژوند بل ډول شریک او له تاوتریخوالي ډک ژونده تېښته وکړه. د هغې په وینا تاوتریخوالي کوونکي یې تمه لرله چې د کور پاکولو ټول کار هغه ترسره کړي او نوموړې یې له کوره بهر کار کولو څخه هم منعه کوله. هغه زیاتوي چې دوی په کور کې یې هېڅ ډول وای فای نه درلود؛ ځکه چې تاوتریخوالي کوونکي یې غوښتل له خپلوانو یې لرې وساتي. هغه آن له کوره بهر د سي سي ټي وي کمره لرله او هرکله به چې له کوره هټې ته وتله، د تگ په اړه به یې ورنه پوښتنه کوله.
نوموړې زیاتوي: «زه اوس هم د هغه په اړه بد خوبونه گورم، کله چې د هغه موټر ته ورته موټر گورم، د زړه له تله وېرېږم. ماشومان مې اوس هم ډارېږي، دوی د هغه له حال او وضعیت څخه د بد خوب په توگه یادونه کوي، پوهېږم که

«کله چې تاسو له تاوتریخوالي سره مخ شئ، هر څه درته بل ډول ښکاري، تاسو به وېرېدلي وئ، بل عنصر مالي تاوتریخوالی دی چې تر ډېره په کورني تاوتریخوالي کې موجود وي، دغه طرحه هغو وګړو ته چې له یوې تاوتریخوالي زېږېدونکي اړیکې بهر شوي وي دا پیغام رسوي چې د ټولنې وګړي او په ځانګړي ډول د اورګاډي شرکت تاسو ته ارزښت درکوي او غواړي چې تاسو ته د تېښتې لاره آسانه کړي.»

له نوموړي سره مې ژوند ته دوام ورکړی وی، ژوندی نه پاتې کېدم.»

شمېرنې ښيي چې په بریتانیا کې ښځې له خپل ناوړه او تاوتریخوالي کوونکي خاونده له بېلېدو وروسته د مرګ له ډېر ګواښ سره مخامخ دي؛ شاوخوا ۵۵ سلنه وژل شوې ښځې د خپلو پخوانیو خاوندانو له لوري د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې د بېلېدو په لومړۍ میاشت کې وژل شوې او ۷۸ سلنه په لومړي کال کې.

په هرو څلورو ورځو کې په بریتانیا او ولز کې یوه ښځه د ژوند د اوسني یا پخواني شریک له لوري وژل کېږي. یوه ښځه په منځني ډول اوه ځله د خپل ژوند تاوتریخوالي کوونکي شریک څخه د جلا کېدو هڅه کوي تر هغه په تېښتې بریالۍ شي. د کورني تاوتریخوالي قربانیان دې ته اړ کېږي چې د هېواد ګوټ ګوټ ته کډه وکړي چې په ډاډه زړه له خپل خاوند پرته ژوند وکړي.

په ورته وخت کې د کرونايي وضعیت پر مهال کورني تاوتریخوالي ډېر شوی او کوم راپور چې سنا جرګې په اپریل میاشت کې خپور کړی، ښيي چې د کرونايي وضعیت پر مهال په ۲۱ ورځو کې وژنې دوه برابره شوې دي.

شارلوت نیر په ساري (Surrey) کې چې له لندنه په یو ساعت واټن کې پرته سیمه ده او هغه ځای چې اوا د خپل ژوند له شریکه ورته پناه یوړه د پناه اخیستونکو مېرمنو اجرایي مدیره ده. نوموړې وایي چې د اوسپنې پټلۍ د وړیا ټکټ برابرولو طرحه د «ژوند ژغورنکي» په نامه ده.

«دغې طرحې سلګونه مېرمنې وژغورلې، زموږ په پناه ځای کې ۹۰ سلنه ښځې موجودې دي؛ ځکه که تمه وي چې په خپلو کورونو کې پاتې شي، نو د خپلو خاوندانو لخوا به د وژلو له ګواښ سره مخ شي.»

«کله چې تاسو له تاوتریخوالي سره مخ شئ، هر څه درته بل ډول ښکاري، تاسو به وېرېدلي وئ، بل عنصر مالي تاوتریخوالی دی چې تر ډېره په کورني تاوتریخوالي کې موجود وي، دغه طرحه هغو وګړو ته چې له یوې تاوتریخوالي زېږېدونکي اړیکې بهر شوي وي دا پیغام رسوي چې د ټولنې وګړي او په ځانګړي ډول د اورګاډي شرکت تاسو ته ارزښت درکوي او غواړي چې تاسو ته د تېښتې لاره آسانه کړي.»

مېرمن نیر وویل: «د دغې طرحې یوه بله ځانګړنه او ګټه دا ده چې ډاډ ورکوي د پناه ځای کارکوونکي اړ نه دي چې پیسو د پیدا کولو او کورني تاوتریخوالي د قربانیانو د لېږد رالېږد لپاره هڅې وکړي چې ښايي ډېر وخت ونیسي.»

هغې زیاته کړه: «دغې طرحې د قربانیانو لپاره ددغه ډول ستونزمنې اړیکې پرېښودلو چاره آسانه کړې او پر امن ځایونو یې هغه فشار چې په وروستیو کلونو کې یې د اقتصادي سرچینو له کمښت سره مخ ؤ کم کړی دی.»

مېرمن نیر څرګنده کړه: «دغه طرحه د اوسپنې پټلۍ د یوه کارکوونکي د کار پایله ده، دغه کارکوونکي ناڅاپه د څلورم چینل یو مستند فلم چې د پناه ځای په اړه ؤ لیدلی چې لومړی ځل ؤ یوې ډلې له کمرې سره د بریتانیا یوه پناه ځای ته د عکس/ویډیو اخیستلو اجازه ترلاسه کړې وه.»

هغه زیاتوي: «نوموړي د سویل لوېدیځ [د اوسپنې پټلۍ] شرکت لپاره کار کاوه او فکر یې کاوه چې ښځې پناه ځای ته نه شي تللی او دا وېروونکې چاره ده، هغه په دې اند و چې په دې اړه باید کوم کار وکړو؟ هغه څه چې زما احساس یې راوپاراوه دا دي چې یو شخص بدلون رامنځته کولای شي او دا کار یې وکړ، هغه یو عادي وګړی دی چې خپل کار کوي او د شرکت په یوه لوړ مقام کې هم نه دی.»

دا د اورګاډي پټلۍ د شرکتونو او د کورنیو تاوتریخوالي د خیریه موسسو ګډه طرحه ده چې د ښځو، ماشومانو او سړیو لپاره د رېل ټکټ ورکوي. هغه وګړي چې له دې طرحې یې ګټه پورته کړې، له درېیو کابو دوه برخې ویلي چې که د سفر پیسې نه وي ورکړل شوې نو دا سفر یې نشو کولای.

د کورني تاوتریخوالي له قربانیانو چې غوښتل یې وتښتي له هرو درېیو یو یې له مالي ستونزو سره مخامخ شوی او تېښته یې نه شو کولای، چې په دې کې د پیسو غلا، د لګښت د کنټرول لپاره هڅه او یا هم د ژوند د شریک له خوا د قرباني په نامه د پور راټولول شامل دي.

**دغه مقاله د «جنسیتي برابرۍ» کمپاین د یوې برخې په توګه لیکل شوې ده. په دې کمپاین کې ۱۵ خبري او نړیوالې رسنۍ سره راټولې شوې چې د ستونزو او حل لارو په وړاندې کولو دغو ننګونو ته د پای ټکی کېږدي.**

# ادبي ورشو

## لنډۍ

موري ځدرانېو کې دې ورکړم
دا دي دروغ وېل چې خبرې نيسي ګلونه

مورجانې دوې ګوتې مې سرې کړه
چې په دریال یې اړوم لکه لعلونه

مور دې د بربتو نه قربان شه
په تناره دې جینکۍ صفت کوينه

خدايه د مور یې ورته پام کړې
چې په لنډۍ زنه یې ووهي خالونه

بیا به منګې ته ګوتې نه کړم
مور د ګودر له تلو نه ما منعه کوينه

پوزه یې پيته خوله یې چيته
مور یې خوشحاله ده چې پېغله لور لرمه

ادکې موري ځراغ بل کړه
د مومن خان په وينو سره شول بالښتونه

زلفې مې مه لنډوه موري
په سر پرېکړو ونو نه کينې بازونه

نجلۍ له موره دې وېرېږم
ګودر ته راشه کور ته نه درسره ځمه

موري لنډۍ کميس را جوړ کړه
يار مې ضابط دی زنګون کښ ورته کوومه

وطن له مور او پلاره خوږ دی
جانانه درې واړه پرېږدم تاسره ځمه

## مـور

که جنت پر دې دنیا ده هغه مور ده
که د ټول ژوندون ښکلا ده هغه مور ده
ما د ژوند له تیاریکیو نه راباسي
چې مې لارې ته رڼا ده هغه مور ده
بې له مور نه په ژوندون یم لکه مړی
چې مې مات وجود ته ساه ده هغه مور ده
چې یې ووینم زړګی مې پرې قرار شي
چې هر درد ته مې دوا ده هغه مور ده
د هر چا به څه ناڅه خوا دربدېږي
چې زړه سواندې تر هر چا ده هغه مور ده
په دنیا کې هم وفا شته هم جفا شته
خو چې صرف وفا وفا ده هغه مور ده
ای {مظلومه} بس له موره دعاء غواړه
قیمتي چې یې دعاء ده هغه مور ده
مظلوم کوچی

## موري

موري ، موري خوږې موري
راته غوږ شه درته وایم
د خوږمن وجود خبرې
د خپل سترې زړه سندرې
موري ، موري خوږې موري
دا دنیا ډېره بدرنګه
ادې هر چا یو غم راکه
هر یو چا مې لمن پرې کړه
هر یو چا مې زړه ګی مات که
ټولو تور باڼه را مات کړه
چا چارګل راته ذرې کړ
چا امیل دانه وانه کړ
چا مې اوښکې ملغلرې
په سینه را واچولې
چا مې سره لاسونه سپین کړه
ماښامونه یې غمګین کړه
بس په غم مې شپه رڼه کم
په دردونو ورځ را شپه کم
موري هر یو هډ مې سترې
موري ژوند مې ډېر نیمګړی
موري ، موري رڼا راکه
موري بیا تمنا راکه
هله! موري زه ډاریږم
خپل تیکري کې مې که پټه
مني زه خزان، خزان کړم
په سپرلي کې مې که پټه
موري، موري خوږې موري
د ځوانۍ شبنه خوږه که
زماني کړم سترې ، سترې
ما په غیره کې ویده که
شفیقه خپلواک

# مریدنامه ۲۸

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

د پاچایانو پر هدیره تېرېدل، په دې هدیره کې یې وژل شوي پاچایان په یوه کتار او په خپل مرگ مړه شوي پاچایان په بل کتار کې خښ کړي وو. د هر پاچا پر شناخته یې د هغه د ژوند وروستی پیغام لیکلی و. وژل شویو پاچایانو د خپل دوښمن په اړه یو څه ویلي وو او په خپل مرگ مړه شویو د خپلې کورنۍ یا میراث سپارښتنه کړې وه.

ببرسری پیر د یوه پاچا شناختې ته ودرېده، ویې لوسته، بیا یې ولوسته او کټ کټ یې وخندل، مرید حیران شو او په ځیر یې د دغه پاچا شناخته بیا ولوستله :

زما لپاره د تاریخ تر ټولو لوی درس دا و: ځان پیاوړی کړئ، چې هیڅوک مو پرهېواد بلوسلو او یرغل ته زړه ښه نه شي کړای ! تر هغو چې په کور دننه کمزوري یاست او خپلو کې شخړې کوئ، یو پردی به پردروازه درننوځي او بل په کړکۍ.

مرید خپل ببرسری پیر وپوښت: د دې شناختې د پیغام توپیر له نورو سره څه دی؟

پیر بیا وخندل او ځواب یې ورکړ: ښه ځیر شه، د وژل شویو پاچایانو د قبرونو شمېر تر هغو ډېر دی، چې په خپل مرگ مړه شوي دي، د دې هېواد د واکمنو ټول عمر د واک پرسر په شخړو کې تېرشوی دی، یو بل یې سره وژلي او ژوبل کړي دي، بس چې کمزوري شوي، بیا بهرنیان راغلي او پرېمانه مرگ ژوبله یې کړې ده.

په دوی کې تر ټولو هوښیار پاچا همدا دی، چې له تاریخه یې اخیستلی درس پرخپله شناخته لیکلی دی.

مرید چې ځیرشو، په حیرانتیا یې ولیدل، چې د وژل شویو پاچایانو د قبرونو کتار ډېراوږد دی، دومره اوږد چې اخر سر یې نه ښکارېده.

یوې سمسورې درې ته ورسېدل، لوړ غرونه او شنه ځنگلونه، په منځ کې یې مست سیند بهېده. د درې خلکو په پټه د ځنگلونو لرگي وهل او په غلا یې گاونډي هېواد ته د پلورلو لپاره وړل.

مرید یو کلیوال وپوښت: دا ځنگلونه د چا دي؟

کلیوال ورته وویل: زموږ خپل ځنگلونه دي؟ مرید بیا پوښتنه وکړه، نو ولې یې ونې په غلا وهئ؟

کلیوال ورته وویل: شرمیږو، خو څه وکړو؟ که دا لرگي ونه پلورو له ولږې مرو. نو له سیند څخه اوبه ولې نه غلا کوئ؟

کلیوال د مرید لیونتوب ته حیران شو، لږ یې وموسل او په حیرانتیا یې وویل: د سیند اوبه ولې غلا کړو؟ سیند خو چې خومره اوبه وغواړو راکوي یې.

مرید وویل: نو ولې یې نه ترې غواړئ، چې له لوږې مو وژغوري؟

کلیوال وویل: دا زموږ کار نه دی.

ببرسري پیر خپل مرید پراوړه وتپاوه او ورته ویې خندل: له هغوڅخه، چې له ځانه غلا کوي، اوبه مه غواړه، هغوی همداسې (بې آبه) ښه دي.

# مـور

◆ م. ظ. صمیم

مور د خدای تعالی داسې بېساری سوغات او ورگړه ده چې ټولې ښېگڼې د هغې په وجود کې نغښتې دي. د مور مینه بې بدیله، بې مطلبه، بې سارې، سوچه او سکون ښښونکې ده. زما په اند د انساني نسل تر ټولو خوږه، تر ټولو ستره او تر ټولو ښکلې کلمه مور ده او تر ټولو نرم فریاد زما موري دی، د مور کلمه د مینې او هیلې څخه جوړه ده، د زړه له تله راوتلی خوږ او ملهم غږ د مور کلمه ده. د فطرت شي د مور د هستۍ ښکارندویي کوي، لمر د طبیعت مور ده چې بدن ته یې تودوخه ورکوي، د کرې ورځې ستومانه ځمکه په غېږ کې بیده کوي او ځمکه د گلونو او بوټو مور ده چې راټوکوي یې او را زغونوي یې او وروسته یې په خپله سینه کې پالي، بوټي او گلان بیا خپلو تخمونو او مېوو ته د مور بڼه لري، لنډه دا چې مور د نړۍ د ټولې هستۍ او ژوند اصل ده. د مور کلمه زموږ په زړونو کې داسې ناسته ده چې د غم او ښادۍ پرمهال داسې زموږ له شونډو راوځي لکه د گل د سېنې نه چې ورمې راپورته شي. لوبي او نومیالیتوب خو نارینه ترلاسه کولای شي خو بیه یې ښځه او په ټول کې مور ادا کوي او سرچینه یې هماغه مور ده. مور د غم په تیارو کې د هیلو څرک، په دردمنو شپېو کې د آرامۍ پتې، د بې وسۍ په تیارو کې د هیلو شمع او د مینې، رحم، مهربانۍ او بخشش سرچینه، د ستونزو او کړاوونو پر مهال لارښوونکې او د غمونو او ناخوالو په وخت سکون ورکوونکې ده. اخلاص چې د ټولو جذبو او احساساتو جوهر دی؛ مور د اخلاص بېلگه ده د هغې له سترگو مینه له ورایه ښکاري، د مور مینه خوږه، بې دریغه او تونده ده. د مور مینه بې بدیله، یو اړخیزه، بې مطلبه، بې بېې او بې سارې ده. ځوک چې له موره بې برخې دي ددې فاني نړۍ له هرې لنډمهاله خوښۍ څخه بې برخې دي. هو، زه نه له ستونزو خبر وم نه مې ناخوالې پېژندلې او نه مې له خوښۍ په بل څه فکر کړی و. د ژوندانه د تنکۍ ځوانۍ نوی پیر مې په پیلېدو و، د ژوندانه له هرڅه مې خوند اخیست، د ماشوماتوب لوبې او د خوښیو شپې تېرول زما یوازینی بوختیا وه، خو د خوښیو په دې پړاو کې ناڅاپه د نړۍ له بې بدیله او بې سارې مینې او د مور له آرامې غېږې بې برخې شوم، هغې یوازې پرېښودم او هر څه یې راته په تورتم بدل کړل، د خوښیو شپې یې راته په غم کړې، له هماغه ماشومتوبه یې له غمونو سره بلد کړم لکه ځوک چې له خواږه خوبه راپاڅېږي او په تورتم یې سر شي، هر څه په یوه شپېه کې راته بدل شول. مور زه د تل لپاره یوازې پرېښودم. د هغې بېلتون په اور کې د پخو شویو زړونو په څېر و، ځکه د دې نړۍ هېڅ یوه مینه د مور د مینې ځای نشي نیولی او نه یې بیا څوک په دې نړۍ کې بېلگه لیدلی شي. نو راځئ په خورا صداقت او اخلاص سره د خپلو میندو خدمت وکړو او هېڅکله داسې څه ونه کړو چې مور رانه ناراضه شي، که څه هم مور چې د اولادونو لپاره څومره ستونزې گاللې یوه کوچنۍ برخه یې هم موږ نه شو ورادا کولی خو باید لونې او زامن باید تر خپله وسه د خپلو میندو خدمت وکړي، ځکه کله چې مور نه وي هغه وخت یې بیا په قدر پوهېږئ چې د مور مینه رښتیا هم بې بدیله او بې مطلبه وي. ټولو میندو په تېره بیا د هېواد کړېدلو او ځوربدلو میندو ته د مور د ورځې له امله مبارکي وایم.

# د ناټو مشرانو یو ځل بیا له افغانستان سره د مرستو د دوام ژمنه وکړه



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د شمالي اتلانټیک یا ناټو سازمان د غړو هېوادونو سرمشریزه چې په بروکسل کې ترسره شوه، له افغانستان سره یې یو ځل بیا د خپلو مرستو د دوام ژمنه وکړه.

**په هغه ګډه بیانیه کې چې د غونډې په پای کې خپره شوه راغلي: په افغانستان کې د ناټو پوځي ماموریت پای ته رسېدلی، خو ددغه سازمان ملکي ماموریت دوام لري. د ناټو مشرانو ټینګار کړی چې د افغانستان د خلکو، بنسټونو او امنیتي ځواکونو ترخنګ ولاړ دي او د تېرو شلو کلونو له لاس ته راوړنو ملاتړ کوي.**

د ناټو مشرانو په بیانیه کې همدارازویل شوي چې د ډیپلوماتیک حضور او له نړۍ سره د افغانستان د اړیکو د ارزښت له امله، د حامدکرزي د نړیوال هوايي ډګر د فعالیت د دوام په اړه د ډاډمنېدو په موخه به انتقالي بودیجه ورکړي. په بیانیه کې راغلي چې په افغانستان کې له شلو کلونو وروسته د ناټو پوځي ماموریت د پای ته رسېدو په حال کې دی، خو اوس افغانان په خپله په بشپړه توګه د هېواد د امنیت مسوولیت پرغاړه لري.

ددغه سازمان په وینا، له افغانستانه د ځواکونو وتل له دغه هېواد سره د اړیکو د پرې کولو په مانا نه دي، بلکې د اړیکو نوی باب پرانیستل کېږي. د مهال وېش له مخې ټاکل شوې بهرني ځواکونه د روان میلادي کال د سپتمبر تر یوولسمې نېټې له افغانستانه ووځي. ناټو په داسې حال کې خپلې ژمنې یو ځل بیا تازه کوي چې په اوسني وخت کې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې جګړې زور اخیستی دی.

**د ناټو سرمشریزې د بیانیې په اتلسمه ماده کې ویل شوي: «له کابو شلو کلونو وروسته په افغانستان کې د ناټو پوځي عملیات د پای ته رسېدو په حال کې دي.» د ناټو په وینا، ددغه سازمان غړو هېوادونو خطرونه لیرې کړي او له افغانستان سره یې د امنیتي بنسټونو په پیاوړتیا کې مرسته کړې ده.**

په بیانیه کې راغلي چې ناټو له افغانانو او امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ کوي. دوی ویلي چې د ملي اردو د باور صندوق له لارې به له افغان ځواکونو خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. ناټو همدارازویلي چې له افغانستان سره د ډیپلوماتیکو همکاریو د پیاوړتیا په موخه به یې د ملکي استازولۍ دفتر فعالیت دوام ولري.

د ناټو د سرمشریزې په بیانیه کې راغلي چې له خپلو متحدینو سره به د افغانستان په اړه مذاکرات زیات کړي او د افغانانو په مشرۍ د سولې له بهیره ملاتړ کوي، همداراز تول لوري به وهڅوي چې سیاسي هوکړې ته د رسېدو لپاره پراخې هڅې وکړي.

د ناټو مشرانو ټینګار کړی چې په دغه هوکړه کې باید ډاډمن شي، د افغانانو په تېره بیا ښځو، ماشومانو او لږکیو حقونه خوندي کېږي او افغانستان بیا د ترهګرو په امن پټنځای نه بدلېږي.

**له بلې خوا، د امریکا ولسمشر جوبایډن، په بروکسل کې د ناټو تر سرمشریزې وروسته، خبري ناستې ته وویل: «د ناټو مشرانو په دغه غونډه کې، د افغانستان په هکله مهمې هوکړې وکړې چې ناټو او متحدین به یې، له افغانستانه د خپلو ځواکونو تر ایستلو وروسته، له افغانانو خپل ملاتړ ته دوام ورکوي.»**

بایډن وایي: «زموږ ځواکونه خپلو کورونو ته ستنېږي، خو موږ هوکړه وکړه چې له افغانانو سره به ډیپلوماتیکې، اقتصادي او د بشري مرستو ته دوام ورکوو او له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو به دوامداره ملاتړ کوو.»

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ هم په بروکسل کې خبري ناستې ته وویل چې د پرېکنده ملاتړ ماموریت ختمېږي، خو ناټو به په ځلورو برخو کې خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. د افغان ځواکونو

تمویل، له افغانستانه بهر د افغان ځواکونو روزنه، په افغانستان کې دایمي ملکي حضور او د کابل د نړیوال هوایي ډگر په گډون ښځ بنسټونو ساتنه هغه برخې دي چې ناټو به په دوامداره توگه ترې ملاتړ کوي. په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې ناټو به په کابل کې د خپلې ملکي استازولۍ دفتر وساتي چې افغانستان سره ملگرتیا او ډیپلوماتیک حضور دوام وکړي.

**له بله پلوه، د ترکیې ولسمشر ویلي چې هېواد یې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته په خپل نوي ماموریت کې د پاکستان، امریکا او هنگري مرستې ته اړتیا لري. رجب طیب اردوغان د ناټو له سرمشریزې وروسته ویلي چې هېواد یې په افغانستان کې د پاتې کېدو لپاره په دیپلوماتیکو، لوژستیکي او مالي برخو کې د امریکا ملاتړ ته اړتیا لري.**

له دې مخکې رپوټ ورکړ شوی و چې د کابل د هوایي ډگر د امنیت چارې ترکیې ته سپارل کېږي. اردوغان هم بروکسل ته له راوتېدو مخکې ویلي چې ترکیه په افغانستان کې د وضعیت د مدیریت کولو لپاره مناسب هېواد دی. خو طالبان د سپتمبر له یوولسمې نېټې وروسته د ترکیې په گډون د ټولو بهرنیو ځواکونو د حضور مخالف دي. ترکیه اوسمهال په افغانستان کې ۵۰۰ پوځیان لري. له بلې خوا، ناټو سازمان د ځانگړو افغان امنیتي ځواکونو د روزنې په موخه د یوه مرکز د جوړولو لپاره له قطر سره د مذاکرې په حال کې دی.

رویټرز خبري آژانس د غبرگولي په ۲۴ نېټه په ناټو سازمان کې د ځینو سرچینو له قوله رپوټ ورکړ چې **دغه سازمان د افغان ځانگړو ځواکونو د روزنې لپاره د یوې امنې اډې د جوړولو په لټه کې دی، چې د ناټو سازمان چارواکي په دې اړه د قطر له دولتي چارواکو سره د خبرو په حال کې دي.**

درېیو لوړپوړو لوېدیځو چارواکو رویټرز ته ویلي چې له افغانستان سره د ناټو د ستراتېژیکو همکاریو له مخې، دا سازمان په پام کې لري چې د ځانگړو افغان ځواکونو د روزنې لپاره په قطر کې یو مرکز جوړ کړي. اخوا، په کابل کې یوې دیپلوماتیکې سرچینې دغه خبري آژانس ته ویلي چې په قطر کې د څلورو تر شپږو اونیو لپاره د ځانگړو افغان ځواکونو د روزنې موضوع د ناټو چارواکو له خوا مطرح شوې ده. له دې مخکې د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ ویلي و چې په بهر کې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې زمینه برابروي. د نړیوالو مرستو د دوام لپاره د هیلو په لړ کې په هېواد کې امنیتي وضعیت ترینگلی شوی دی. په تېره کابو یوه نیمه میاشت کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې کابو دېرش ولسوالۍ د طالبانو لاس ته ورغلي دي.

که څه هم امنیتي بنسټونو دا کار یو تکتیکي عمل بللی، خو طالبان یې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د فشار پایله بولي. دغې ډلې ویلي چې د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره د دولت لپاره شرایط خرابېږي او د هرې ورځې په تېرېدو سره له مقاومت پرته ولسوالۍ او مهم پوځي مرکزونه د طالبانو لاس ته ورځي.

که څه هم په هېواد کې د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اړه اندېښنې زیاتې شوې، په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو د دوام لپاره هڅې گړندۍ شوې دي.

# د یوې اونۍ په اوږدو کې د هېواد د درېیو ملي او کلتوري شخصیتونو مړینه



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د سولې د عالي شورا پخوانی غړی او جهادي مشر قاضي محمد امین وقاد د وریښبني ناروغۍ له امله وفات شو. د رپوټونو له مخې، د حزب اسلامي د شوراگانو اتحاد غړی قاضي محمد امین وقاد د غبرگولي په ۲۴مه نېټه په کابل کې د کووېډ نولس ناروغۍ له امله ساه ورکړه. د ښاغلي وقاد زوی صهیب وقاد رسنیو ته ویلي چې پلار یې له دوو کلونو راهیسې ناروغ و او په دې وروستیو کې یې د زړه او سږو د ناروغۍ له امله روغتیایي حالت خراب شوی و. قاضي محمد امین وقاد له مخکښو جهادي مشرانو څخه و چې په وروستیو کلونو کې یې په هېواد کې د سولې او ټیکاو د راوستو لپاره پراخې هڅې کړې دي.

افغانستان نوموتی لرغونپوه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت پخوانی مرستیال او د کابل پوهنتون استاد پوهاند محمد رسول باوري د کووېډ نولس ناروغۍ له امله وفات شو. نوموړی له څو ورځو راهیسې ناروغ ؤ او د غبرگولي په ۲۱مه نېټه یې په روغتون کې ساه ورکړه. پوهاند باوري د افغانستان یو نامتو لرغونپوه، لیکوال او څېړونکی ؤ، چې د کابل پوهنتون د استادۍ دندې تر څنگ یې په لسگونو علمي، څېړنیز آثار او د لرغوني پېژندنې په برخه کې په سلگونه څېړنیزې مقالې لیکلې وې. پوهاند باوري د افغانستان په لرغون پېژندنه، تاریخ او فرهنگ کې مهم ځای درلود.

د نوموړي پر مړینه، د ولسمشر غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا د رئیس عبدالله عبدالله په گډون د هېواد گڼو دولتي چارواکو، سیاستوالو، فرهنگیانو او ادیبانو خواشیني ښکاره کړې او د هغه مړینه یې د هېواد لپاره ستره ضایعه بللې ده.

همدارنگه، نامتو لیکوال او ژورنالیست او د ولسمشر محمد اشرف غني د رسنیزو چارو سلاکار محمد نبي مصداق د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له امله وفات شو. رپوټونه وايي چې نبي مصداق له څو ورځو راهیسې په کووېډ-۱۹ ناروغۍ اخته و او له همدې امله یې په روغتون کې ساه ورکړه. نبي مصداق په ۱۹۸۱ کال کې د بي بي سي پښتو څانگې په جوړېدو سره د دې څانگې وياند او خبریال او وروسته مشر و.

نوموړي له ۲۰۱۵ کال راهیسې د ولسمشر غني د مطبوعاتي سلاکار په توگه دنده ترسره کوله. افغان ولسمشر محمد اشرف غني د ښاغلي مصداق پر مړینه خواشیني ښودلې ده. ارگ وايي، ښاغلي مصداق د ولس او دولت ترمنځ د اړیکو د ټینگښت په موخه پراخې هلې ځلې وکړې او مړینه یې لویه ضایعه ده.

## اروپايي پارلمان:

# په افغانستان کې له بشري قوانينو د سرغړونې په اړه دې کمېسيون جوړ شي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

اروپايي پارلمان د پرېکړه ليک په صادرولو سره په افغانستان کې له نړيوالو بشردوستانه قوانينو د جدي سرغړونې په اړه د پلټنو لپاره د يوه کمېسيون د جوړولو غوښتنه کړې ده.

دغه بنسټ په افغانستان کې د ملکي وګړو په وړاندې د تاوتريخوالي له زياتوالي وروسته، د پارلمان د بهرنيو اقداماتو له کمېسيون او د اروپايي ټولنې له غړو هېوادونو غوښتي چې د ملګروملتونو د بشري حقونو شورا وهڅوي چې په افغانستان کې له نړيوالو بشردوستانه قوانينو د سرغړونې په هکله د پلټنو په موخه يو کمېسيون جوړ کړي.

د اروپايي پارلمان د مالوماتو له مخې، د تېرو شلو کلونو په بهير کې په اټکليزه توګه ۱۵۰ زره تنه وژل شوي چې ۳۵ زره يې ملکي وګړي وو.

اروپايي پارلمان په دغه پرېکړه ليک کې د بهرنيو ځواکونو د وتلو له بشپړېدو وروسته د افغانستان وضعيت ماتېدونکی بللی دی. د اروپايي پارلمان په وينا، د ملکي وګړو پرخلاف تاوتريخوالی زيات شوی او د افغانستان راتلونکی لرليد او د تېرو دوو لسيزو لاس ته راوړنو خونديتوب د اندېښنې وړ دی. په دغه پرېکړه ليک کې ويل شوي چې په دوحه کې د بين الافغاني مذاکراتو له پيلېدو سره په يو وخت، تاوتريخوالی زيات شوی او د سولې مذاکرات له بندون سره مخامخ شوي دي.

اروپايي پارلمان په افغانستان او سيمه کې د ترهګرۍ په تېره بيا داعش او القاعدې د ګواښ په اړه اندېښنه ښرګنده کړې او له القاعدې سره د طالبانو د اړيکو د پياوړتيا په هکله يې د ملګروملتونو سازمان د څارونکو ډلو موندنې له خبرداري ډکې بللې دي.

اروپايي ټولنې ويلي چې د سولې مذاکراتو د ماتې په صورت کې به په افغانستان کې د جګړې دوام ترډېره پر ښځو، ماشومانو او قومي لږکيو اغېز وکړي. د اروپايي پارلمان په ۲۷ماده ييز پرېکړه ليک کې ويل شوي چې يوې سياسي هوکړې ته د رسېدو لپاره بايد دواړه لوري له دريېم منځګړي يعنې ملګروملتونو له سازمانه ګټه واخلي.

اروپايي پارلمان په افغانستان کې د ترهګرۍ د مالي سرچينو پرخلاف د مبارزې اړتيا ته په اشارې سره وايي چې په ۲۰۱۸ کال کابو شل سلنه دغه سرچينې له ناخالصو کورنيو توليداتو ترلاسه شوې دي.

له بلې خوا، اروپايي پارلمان جوته کړې چې له پرمختګونو سره سره تراوسه هم ښځې، ماشومان او نجونې له وېروونکي ګواښ سره مخامخ دي. د اروپايي پارلمان په پرېکړه ليک کې پر سيدالشهدا ښوونځي بريد ته اشاره شوې چې نوي ښځينه زده کوونکې پکې ووژل شوې او ۲۴۰ ټپي شوې وې. اروپايي پارلمان د برچې پر سل بستريز روغتون د تېر کال بريد ته هم اشاره کړې او د ملګروملتونو سازمان په څارنه يې د دغو دوو پېښو د رېنو پلټنو غوښتنه کړې ده.

د اروپايي پارلمان په ناسته کې همداراز له طالبانو ډلې غوښتل شوي چې پر ملکي وګړو په تېره بيا د رسنيو، دولتي او نادولتي کارکوونکو بريدونه ودروي او د دايمي اوربند په منلو سره نړيوالو بشردوستانه قوانينو ته درناوی وکړي.

له بله پلوه، اروپايي پارلمان په پام کې لري چې له ۲۰۲۱ تر ۲۰۲۵ کال پورې له افغانستان سره د ۱،۲ ميليارد ډالرو مرسته وکړي. د اروپا پارلمان همداراز له کورونا ويروس سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره د خپلو مرستو پر دوام ټينګار کړی دی. د اروپايي پارلمان په باور کورونا په افغانستان کې د بې وزلۍ کچه لوړه کړې ده.

اروپايي پارلمان د افغانستان د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره د ګاونډيو هېوادونو، منځنۍ آسيا او د سيمې د لويو قدرتونو ملاتړ او همکاري اړينه بللې ده.

د اروپا د پارلمان په وينا، افغان دولت بايد په واقعي توګه له ترهګرۍ، وسله والو ډلو او د نشه يي توګه له توليد سره مبارزې او د نامنظمې کډوالۍ کنټرول مخنيوي ته ژمن وي.

اروپايي پارلمان په افغانستان کې وچکالۍ ته هم اشاره کړې او زياته کړې يې ده چې دغه طبيعي خطر به ۱۷،۶ ميليونه وګړي د خوړو له کمښت سره مخامخ کړي او همداراز به ۵،۵ ميليونه نور سالمو خوړو ته د لاسرسي لپاره له بېړني حالت سره مخامخ شي.

## طالبان:
# په هر نوم چې وي په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور د منلو وړ نه دی



◆ د ۸صبح پښتو مجله

طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره له هېواده د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته د کابل هوايي ډگر او سیاسي استازولیو د امنیت د ساتلو په موخه د ځینو هېوادونو د پوځیانو د احتمالي حضور په وړاندې غبرگون ښودلی دی.

د طالبانو په اعلامیه کې راغلي: په هېواد کې د بهرنیو ځواکونو شتون تر هر نامه لاندې او د هر هېواد چې وي د دغې ډلې لپاره د منلو وړ نه دی.

له دې مخکې داسې راپورونه ورکړل شوي وو چې د کابل هوايي ډگر د امنیت مسوولیت ترکیې ته سپارل کېږي.

خو طالبانو ډلې ویلي چې په افغانستان کې د هوايي ډگرونو، بهرنیو سفارتونو او ډیپلوماتیکو نمایندگیو د امنیت ټینگښت د افغانانو مسوولیت دی.

د طالبانو په اعلامیه کې راغلي: «هېڅوک دې زموږ په هېواد کې د پوځي یا امنیتي حضور د دوام هیله نه کوي او باید داسې گام پورته نه کړي چې په پایله کې یې د اولسونو او هېوادونو ترمنځ اړیکې ترینگلې شي.»

طالبانو گواښ کړی، هغو پوځیانو ته به د یرغلگرو په سترگه گوري او جدي عمل به ورسره کوي چې د هوايي ډگرونو او ډیپلوماتیکو ځایونو د امنیت ساتلو په نوم پاتې کېږي.

طالبانو همدارازِ ټینگار کړی چې افغانان د نړیوالې ټولنې او دوستو هېوادونو بشردوستانه او غیرمغرضانه مرستو ته اړتیا لري او طالبان هم ددغو مرستو د دوام غوښتونکي دي.

## اردوغان:
# ترکیه د افغانستان وضعیت د مدیریت لپاره د باور وړ هېواد دی



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې سره ویلي چې ددغه بهیر په پای کې به ترکیه د روان وضعیت د مدیریت لپاره د باور وړ یوازینی هېواد وي.

د ترکیې اناتولي خبري آژانس د ریپوټ له مخې، اردوغان دا څرگندونې د غبرگولي په ۲۳مه نېټه د ناټو د غړو هېوادونو د مشرانو په ناسته کې د گډون په موخه بروکسل ته له روانېدو مخکې له خبریالانو سره کړې دي.

اردوغان ویلي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته، ترکیه د افغانستان د روان وضعیت د مناسب مدیریت لپاره یوازینی د باور وړ هېواد دی.

له دې مخکې ریپوټ ورکړ شوی چې د کابل د هوايي ډگر د امنیت مسوولیت ترکي ځواکونو ته سپارل کېږي.

د ناټو سازمان عمومي منشي ینس سټولتنبرگ هم ویلي چې د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته د کابل د هوايي ډگر د امنیت ساتلو په اړه له ترکیې سره خبرې روانې دي.

له بلې خوا، طالبانو له افغانستانه د امریکايي او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته د ترکي پوځیانو له حضور سره مخالفت کړی دی.

# بحران څنګه په فرصت واړوو؟



◆ **عبدالغفور لېوال**

موږ څو ځلوېښت کاله جګړه، ګواښ، بېوزلي، لاسوهنه، محرومیت، وزګاري او لـه نـړۍ سره ژور توپیر ګاللـی. د دغـو ټولو ناخوالـو ټولګه داسـې بحـران (کړکېچ) راپېښ کـړی، چـې اوس یـې پـه فرصت د بدلولـو زمزمـه کېږي.

چـې ریښـتیا ووایـم، پـه فرصت د بحـران د بدلولـو مفهـوم مـې لومړی ځـل لـه قدرمـن ولسمشـر څخـه اورېدلـی دی. ورو ورو مـې پـر دغـه امکان فکـر کـول پیـل کـړل، ځینـو پایلـو تـه ورسـېدم، ښـایي سـمې پایلـې نـه وي، خـو زه یـې لیکـم، پـر تاسـو یـې خامخـا د منلـو ټینـګار نـه کـوم.

د بحـران یـو لـوی اغېـز دا دی، چـې مـوږ ټـول غوسـه یـو. یـو ټولنیـز عصبانیت لکـه ساري ناروغـي پـه مـوږ کـې ګـډ دی. دولت ته غوسـه یـو، بهرنیـو تـه غوسـه یـو، ترهګـر دوښـمن تـه غوسـه یـو، ګاونډیـو تـه غوسـه او خپلـو خلکـو تـه هـم غوسـه یـو. لکـه پـه یـوه وګړي، چـې څو ډولـه غمونه پرېوه مهال راشـي. عزیزان یې مړه شـي، ناروغي ورپېښـه وي، بېوزلـي یـې ځوروي او د خوښـۍ لپاره هیڅه نه لري. څو شـېبې وژاړي، چیغـې وکـړي، زمکـې و اسمان تـه ښـکنځلې هم وکـړي، ټولو تـه بـد رد ووایـي، لـړ یـې زړه تـش شـي. سـتومانه وي، کینـي او خپـل سـر د لاسـونو ترمنـځ ټینګ ونیسـي او فکـر کـول پیل کـړي. دا تر ټولو ګټـوره شـېبه ده. غملړلـی وګـړی فکـر کوي؛

-دا هرڅه ولې راپېښ شول؟

- څه وکړم، چې له دې حالته ووځم؟

مـوږ پـه ټولیـزه بڼـه پـه همداسـې حـال کـې یـو. ښـه ډېـر بـد رد مـو ویلـي، ژړلـي مـو دي لـه ښـکنځلو او سپکولو هـم سـتومانه یـو، لـه نیوکـو، شـکایتونو او انتقادونـو مـو زړه خولـې تـه راغلـی دی.

آیا اوس یې وخت نه دی، چې کېنو او فکر کول پیل کړو؟

بحـران پـه فرصت بدلـول ټولیزه(جمعي) اراده غواړي، داسـې اراده له فکـر کولـو را پیلېـږي. ګـډ فکـر او یـوې ګـډې پایلـې ته رسـېدل، چې پربنسـټ یـې ګـډ عمل تـه لار هواره شـي.

آیـا تاسـو ټـول، چـې زمـا کرښـې لولـئ، همداسـې پـراو تـه رسـېدلي یاست؟

آیا حاضر یاست، چې ګډ فکر کول پیل کړو؟

کـه هـو ! نـو بېدربغـه خپـل نظریـات همدلتـه راتـه ولیکـئ. بـس، دوه درې اخلاقـي اصـول پـه پـام کـې ونیسـئ! د چـا شـخصي حریـم تـه مـه ورننوځـئ، شـخصیتي تخریـب مـه کـوئ، ښـکنځلې او سـپکاوی پرېږدئ، ناهیلـي مـه خپـروئ، دا بـاور پـه کلکـه پـه پـام کـې ونیسـئ، چـې لـه دې حالتـه وتلـی شـو. د لیکلـو اخلاق او ادب پـه پـام کـې سـاتئ او دلتـه یـو پـراخ دیسـکورس راپیـل کـړئ.

نـورې برخـې هـم راروانـې دي، چـې سـره پـرې وګړیـږو، اوس فکـر کـول پیـل کـړئ! مـوږ تـه راپېښ بحـران او ربـړې ټولیـزې (جمعي) او ټولنیـزې (اجتماعـي) دي، حللارې یـې هـم بایـد ټولیـزې او ټولنیزې وي.

چـې د ټولنـې د انسـاني ژونـد پـه شـرایطو کـې مثبت بدلون رانه شـي، د وګـړي (فـرد) ژونـد ښـه کېدلای نه شـي. پـه فرصت د روان بحران د بدلېـدو لپـاره باید خپـل ټولنیز چارچلنـد بدل کړو.

پـه اول ګام کـې لـړ ترلـږه د لوسـتیو او باسـواده فعالـو وګړیـو تـر منـځ د ګـډ فکر و کار لپـاره یـوه ارتباطـي سیسـتم تـه اړتیـا شـته. اوس نـو پوښـتنه دا ده، چې دغه ارتباطـي سیسـتم څنګه جوړوئ؟ دا ارتباطي شـبکه بایـد هـم د بحث و دیسـکورس لپاره موږ سره ونښـلوي او هم د اړتیـا پرمهـال مـوږ پـه فیزیکـي او حضوري بڼه سره راټول کړلای شـي. فکـر، بحث او عمـل نه ښـایي یـوازې په فیسـبوک او مجـازي فضا کې محـدود پاتـې شـي. پـه جوړېدونکـي ارتباطـي سیسـتم کـې بایـد بهر میشـتي افغانـان چـې لـه دې فکري بهیـر سـره همغـاړي دي، پراخه ونـډه واخلـي. مـوږ په نـړۍ کې داسـې بحـران ځپلې ټولنې لـرو، چې دایاسـپورا (یـا بهرمیشـتو نخبـه ګانـو) لـه کړکېچ څخه راایسـتلي وي. ښـکاره خبـره ده، چـې پراخـه عملـي ونـډه بـه پـه کـې هېوادمیشـتي فعالیـن لري.

د دویمـې برخـې د پـای کرښـې دا وګڼـئ، چـې: کړکېـچ پـه فرصت بدلـول، یـوازې د دولـت کار نـه دی، بلکـې دولـت یـې یـوه مدیریتـي او اجرایـوي برخـه ده. دا لـوی نهضـت بایـد د خلکـو لـه خـوا پرمخ ولاړ شـي .

لـه فسـاد، ترهګـرۍ، تاوتریخجـن حاکم تفکـر، ټولنیـزې بداخلاقۍ او د عامـه بـې تفاوتـۍ پـه وړانـدې دربـدل هـم یـوازې د دولتونـو کار نه، بلکـې د غـوره (نخبه) شـخصیتونو تر متشـکلې رهبرۍ لاندې د خلکو د ګـډې ارادې پـه پایلـه کـې هدف ته د رسـېدو ګـډه ټولیـزه هڅه ده. وګورئ،

موږ وویل: « د خلکو کار دی!»، « ولسي هڅه ده!»

ستاسـو لـه نظره دا څه مانـا درلودلای شـي؟ (خلک) یعنـې څوک؟ د ولسـي کار میکانیـزم څـه دی؟ څنګـه د ټولنیـزې اصلاح او په فرصت د کړکېـچ د بدلولـو لپـاره خلک راخوځولای شـو؟

تاسـو د Mass Mobilization یـا Social Mobilization اصطلاحـات اورېدلـي؟ یـا مـو پـرې فکـر کـړی دی؟ په فرصت د کړکېـچ د بدلون لپـاره ټولیـز خوځښـت څنګـه رامنځته کـولای او مدیریت کولای شـو؟ همدا زموږ د دې برخې بنسټي پوښتنې دي.

یاالله، اوس نـو څـه کسـان را مخکـې شـئ او د یوه منظم، متشکل او ټولـو تـه د لاسرسـي وړ ارتباطـي سیسـتم پـر جوړولـو عملـي کار پیـل کـړئ.

عامـه بـې بـاوري لـه ځینـو دوسـتانو مننـه، چـې د ګـروپ تـر جوړولـو او د دغـې لـړۍ ژبـاړې او پاللـو پـورې لاهـم راسـره ګام پـرګام درومي. خـو مـا غوښـتل همـدا درته ځرګنـده کـړم؛ زمـوږ د بحران یـو لوی لامل دا دی، چـې د (بـې تفاوتـۍ) او (مسـئولیت نه منلو) سـتونزه عامه ده. پـه ټولیـز خوځښـت کـې لـه ګډونـه د تېښـتې لپـاره مـو پلمـې ډېـرې

دي. د دې لاملونه ګڼ دي، يو اصلي لامل ټولیزه بې باوري ده.
پرځان بې باوري، پر بل بې باوري، پر خلکو بې باوري، پر ملي اراده بې باوري. ګڼ خلک پرما، زما پرلیکنو او پر همدې لړۍ هم بې باوره دي او حق لري، چې بې باوره وي.
بې باوري له کومه کیږي؟
فکر کوو، هرڅه امریکا کوي،
پاکستان دومره روی دی، چې موږ يې په وړاندې څه کړای نه شو،
ټول سیاستوال دروغ وايي، هرڅه باید حکومت وکړي او ...
کله چې وایو بحران هغه مهال په فرصت بدلولای شو، چې د دې لپاره ټولیز خوځښت رامنځ ته شي. دا خبره هېڅ کله په لاندې ماناګانو نه ده:
- حکومت ته د څه کولو تمه نه لرو،
- حکومت ملامت دی او فساد ډېر دی، پخپله حکومت پوه شه او کار يې،
- خلک په روان بحران کې ملامت نه دي، نو ولې خلک د اصلاح اراده وکړي؟
او داسې نور. دا خبرې او پلمې سمې نه دي، پر لاندې دلایلو، که ستاسو په نظر په حکومت کې ستونزې او فساد د بحران اصلي لامل وي، نو بیا خو بحران پخپله ځان اصلاح کولای نه شي.
بحران باید له بهره د یوه بل ځواک په مټ په فرصت بدل شي.
فساد ناروغي ده، ناروغ بدن په دې ملامتي چې ولې ناروغ شوی، همداسې خپل سر ته پرېښودل حلاله نه ده . ناروغ ته ښايي درمل ورکړل شي، چې جوړ شي.
لوی بحرانونه تل ټولیزو سازماني او ارادي خوځښتونو په فرصت بدل کړي دي.
په چین کې کرونا هغه مهال مهار شوه، چې ولس د ځان وقايه کولو اراده وکړه. شک نه شته، چې چیني حکومت هم خپلې ټولې هڅې وکړې.
بنګلدېش هغه مهال خپلواک شو، چې ټولو بنګیالانو اراده وکړه او د افغانستان خپلواکي له انګریز څخه هغه مهال واخیستل شوه، چې ولسي ځپې په انګریزانو پسې راووتلې او د مشروطه اماني نهضت ترڅنګ ولس راوخوځېده...
موږ په یوه ګڼ ربنښه یي بحران کې ښکېل یو، زه به په نورو راروانو برخو کې د بحران په هره ربنښه او اړخ لیکل وکړم، حللارې به یې هم معرفي کړم، خو شرط به دا وي، چې تاسو هریو به مې عملي او ارادي ملګرتیا کوئ.
د بحران لومړنی ربنښې، بې باوري او د ټولیز خوځښت لپاره کمزورې اراده ده، تشکل او په ګډه (یوځه کول) مو لا هم له لاسه نه کیږي. موږ پر یوه ملي تنبلي، لټي، بې اراده ګۍ، بې باوري اخته یو. وانې مو تنبتبدلي دي او لاس و پښې نه شو راټولولای.
تر بلې برخې پورې پر دې بحث وکړئ، چې په موږ کې د ملي بې باورۍ د له منځه تللو لپاره باید څه وکړو؟
یوازې ماته نصحیت مه کوئ، بلکې دا وواياست، چې همدا تاسو هر یو د ملي بې باورۍ د له منځه وړلو لپاره څه کولای شئ، خپله اراده همدلته ولیکئ!

تر بلې برخې
یاالله

# د ولسوالیو پرلپسې سقوط؛ د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندان درې ورځې غونډې وکړې



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د طالبانو د بریدونو له زیاتوالي او د دغې ډلې له خوا د یو شمېر ولسوالیو له نیولو وروسته، د هېواد د وسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان محمد اشرف غني په مشرۍ درې ورځې پرلپسې ناستې وشوې.
د ارګ د اعلان له مخې، ولسمشر په دغو ناستو کې د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو پر لازیاتې همغږۍ ټینګار وکړ.
د غبرګولي په ۲۵مه نېټه په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د غونډې پرمهال محمد اشرف غني امنیتي ادارو ته حکم کړی چې د دښمن د ناوړه دسیسو د شنډولو او د خلکو د امنیت د ساتلو په موخه خپلې هڅې ګړندۍ او بېړني اقدامات وکړي.
د ارګ د اعلان پر بنسټ د وسله وال پوځ د اعلی سرقوماندانۍ په ناسته کې د هېواد د عمومي امنیتي وضعیت په اړه بحث او خبرې وشوې.
اخوا، په دغه ناسته کې د هېواد د امنیتي او دفاعي ادارو مسوولینو د امنیتي وضعیت، د طالبانو د بریدونو او ددغو بریدونو په وړاندې د مقابلې په اړه ولسمشر ته رپوټ وړاندې کړ.
د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندانۍ ناستې د غبرګولي په ۲۳مه او ۲۴مه نېټه هم ترسره شوې چې د هېواد د امنیتي وضعیت په اړه پکې یو لړ پرېکړې وشوې.
دا په داسې حال کې دي، چې په دې وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د طالبانو بریدونه زیات شوي دي. په تېرو دوو میاشتو کې شل ولسوالۍ د طالبانو لاس ته ورغلې چې دې چارې د خلکو اندېښنې راپارولې دي.

# په هېواد کې د کورونا ویروس پراختیا؛
## روغتونونه د اکسیجن له کمښت سره مخ شوي



◆ م. ظ. صمیم

که څه هم د هرې ورځې په تېرېدو سره په هېواد کې د کورونا د دریېمې څپې د لاپراختیا په اړه اندېښنې زیاتېږي، روغتیا وزارت په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت خبره کوي. له بلې خوا، دغه وزارت په کورونا ویروس د لازیاتو وګړو د اخته کېدو لامل ددغه ویروس په وړاندې د خلکو د بې پامې ګڼي. که څه هم د روغتیایي چارو مسوولینو په ځلونو له خلکو غوښتي چې روغتیایي سپارښتنو ته پام وکړي، خو داسې ښکاري چې دغو غوښتنو ته دومره پاملرنه نه کېږي. **د عامې روغتیا وزارت مسوولین خبرداری ورکوي، په هغه صورت کې چې خلک همکاري ونه کړي او روغتیایي سپارښتنو ته پام ونه کړي د کورونا مثبتې پېښې به لازیاتې شي. ددغه وزارت مسوولین یو ځل بیا له کورنیو او هېوادوالو غواړي کورونا ویروس جدي وګڼي او صحي تدابیر په پام کې ونیسي.**

که څه هم د کورونا د دریېمې څپې د لاخپرېدو د مخنیوي په موخه ځینې تدابیر غوره شوي، خو لیدل کېږي چې دا تابیاوې دومره کارنده نه وې. د عامې روغتیا وزارت د شمېرو له مخې، اوس هم د ورځې کابو دوه زره تنه په دغه ویروس اخته کېږي او له اویا زیات ژوند له لاسه ورکوي. اخوا، د کورونا ویروس خپرېدل او د اکسیجن کمښت ددې لامل شو، چې ولسي جرګې د غبرګولي په ۲۴مه نېټه د عامې روغتیا وزارت سرپرست په عمومي ناسته کې استجواب کړي. د ولسي جرګې غړې د روغتیا وزارت له سرپرست څخه د کابل او ولایتونو په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت د ستونزې د اواري او د لازیات محدودیت لګولو غوښتونکي شول. وکیلان همداراز، نیوکه کوي چې روغتیا وزارت د کورونا واکسین د تطبیق په اړه لازم پوهاوی نه دی کړی او خلک په دې اړه د منفي تبلیغاتو تر اغېز لاندې دي چې باید دې مسلې ته جدي پام وشي.

اخوا، د عامې روغتیا وزارت په هېواد کې د اکسیجن د کمښت ستونزه تاییدوي خو وایي چې د کورونا ویروس د خپرېدو لامل د خلکو بې پامي ده. وحید مجروح زیاتوي چې هېوادوال د دوی خبرداریو ته پام نه کوي او په ګڼه ګوڼه کې له ماسکونو پرته ګډ راټګ کوي. نوموړي خبرداری ورکړ که خلک روغتیایي سپارښتنو ته پام ونه کړي انساني ناورین به رامنځته شي.

د روغتیا وزارت سرپرست ویلي چې د کورونا ویروس په لاخپرېدو سره یې د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د کوویډ نولس ناروغانو د درملنې روغتونونه زیات کړي او د امکاناتو او وسایلو په برخه کې تراوسه ډېرې ستونزې نشته.


د عامې روغتیا وزارت سرپرست د ولسي جرګې استجوابیه غونډې ته ووېل چې ۳۲۰ میلیون ډالر د کورونا د واکسین لپاره بیل شوي چې له یوه معتبر بنسټ څخه به وپېرل شي. وحید مجروح زیاته کړه چې په دغو پیسو به تر ۴۲ میلیون دوزه واکسین هېواد ته وارد شي چې د ملي تدارکاتو اداري په همکارۍ په دې اړه هڅې رواني دي. تراوسه په هېواد کې ۶۰۰ زره تنو ته د کورونا واکسین ورکړل شوي دي.

**د روغتیا وزارت د سرپرست په وینا، د کورونا ویروس په دریېمه څپه کې اکسیجن ته د ناروغانو اړتیا زیاته ده، ځکه هغه دستګاوې چې له دې مخکې د ۲۵۰ تنو لپاره اکسیجن برابراوه اوس یوازې ۳۵ تنو ته بسنه کوي.**

وحید مجروح ویلي چې په کابل کې د کوویډ نولس څلور روغتونونه له کورنیو سرچینو اکسیجن تولیدوي او د اکسیجن هغه لس دستګاوې چې یونیسف ورسره مرسته کړې اوس ولایتونو ته لېږدول کېږي. وحید مجروح زیاته کړې چې دغه وزارت د اکسیجن د کمښت په اړه یو لړ اقدامات کړي دي، د هغه په وینا له ایرانه هم اکسیجن پېردول شوی چې مرکزي او شمالي ولایتونو ته به ولېږدول شي. هغه وایي د هرات او د ایران د مشهد د روغتیا ریاستونو ترمنځ د یوه تړون له مخې، ټاکل شوې په اونۍ کې دوه ټانکرونه اکسیجن هرات او د هېواد لوېدیځې حوزې ته راورسېږي. همداراز، ازبکستان د ورځې ۳۰۰ او تاجکستان د ورځې ۵۰۰ بالونونه اکسیجن افغانستان ته ورکوي چې تر ډېره به په هېواد کې د اکسیجن د کمښت ستونزه پرې اواره شي.

روغتیا وزارت خبرداری ورکوي که تر راتلونکو څلورو اونیو پورې روغتیایي سپارښتنو ته پام ونه شي، د هېواد روغتیایي نظام به له سختو ستونزو سره مخامخ شي. مجروح ټینګار کړی چې مصیبت هر کور ته رسېدلی او خلک باید د روغتیا وزارت سپارښتنې جدي وګڼي او پارلمان هم باید د دوو اونیو لپاره رخصت شي.

د کورونا ویروس لومړنۍ بېلګه د ۱۳۹۸ کال د کب په پینځمه نېټه ثبت شوه. د عامې روغتیا وزارت د رسمي شمېرو له مخې، له هغه وخت راهیسې په هېواد کې ۹۳ زره او ۲۷۲ تنه په دغه ویروس اخته شوي چې له دې ډلې ۶۱ زره تنه روغ شوي او درې زره او ۶۸۳ نور مړه شوي دي.



# د ښځنې نړیوال سازمان له افغان حکومته وغوښتل چې د اکسیجن د کمښت ستونزه حل کړي

◆ **محمد عزیز پردېس**

د ښځنې نړیوال سازمان د یوې خبرپاڼې له لارې له افغان حکومته وغوښتل چې د نړیوالو مرستندویه بنسټونو په مرسته په هېواد کې د اکسیجن د کمښت ستونزه ژر تر ژره حل کړي.

د دغه سازمان په خبرپاڼه کې راغلي چې په افغانستان کې د کورونا درېیمه څپه په خورا چټکۍ سره په خپرېدو ده او د افغانستان دولت ته پکار ده مخکې له دې چې حالات له کنټروله ووځي، د نړیوالو مرستندویه هېوادونو او بنسټونو په همکارۍ په افغانستان کې د اکسیجن د کمښت ستونزه اواره کړي.

دغه بنسټ داسې مهال په دې اړه خبرداری ورکوي، چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت چارواکي د کورونا درېیمې څپې د چټکې خپرېدو په اړه خبرداری ورکړی دی.

د دې وزارت سرپرست وحید مجروح څو ورځې مخکې افغانانو په خطاب کې ویل: که د ډاکترانو سپارښتونو او لارښوونو ته پاملرنه ونه وکړئ، ښایي حالات نور هم ترینگلي شي.

دغه وزارت زیاتوي چې، په هند او نورو هېوادونو کې د کورونا وروستي وضعیت ته په کتو سره دې هېوادوال د افغانستان د روغتیا له برخې سره همکاري وکړي او د روغتیا پالانو سپارښتنې دې جدي وگڼي.

# په ننگرهار کې نامعلومه وسله والو د گوزڼ ضد واکسین څلور کارکوونکي وژلي دي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**
◆ **زمان سهیل ـ ننگرهار**

د ننگرهار د مرکز جلال آباد په سره رود او خوگیاڼیو ولسوالیو کې وسله والو په جلا جلا پېښو کې ۴ واکسیناتوران وژلي او ۴ نور یې ټپیان کړي دي. په ختیځ کې د پولیو واکسیناسیون د همغږۍ مسؤل ډاکټر نجیب کامه وال ۸صبح ته وویل، وسله والو د غبرگولي په ۲۵مه نېټه دوه واکسیناتوران د جلال آباد ښار په درېیمه ناحیه او دوه نور د سره رود ولسوالۍ په چمتلي ښارگوټي کې وژلي او په همدې پېښو کې ۴ نور واکسیناتوران ټپیان شوي دي.

د ننگرهار والي ضیاءالحق امرخېل پر واکسیناتورانو دغه برید غندلی او خواشینې یې څرگنده کړې ده. امرخېل په خپل ټوېټر لیکلي: «واکسیناتوران کور په کور گرځي او ماشومانو ته د گوزڼ د مخنیوي په موخه واکسین تطبیقوي، خو وسله وال یې په نښه کوي، چې دا یو ناوړه عمل دی.»

د دغو پېښو مسؤلیت تر دې دمه کومې وسله والې ډلې نه دی منلی.

له دې مخکې هم په جلال آباد ښار کې د پولیو واکسیناتوران په نښه شوي، چې ښځینه واکسیناتورانې هم پکې شاملې وې.

## د تکواندو افغان لوبغاړي محسن رضايي د آسیا اتلولي وګټله

د افغانستان د تکواندو د ملي لوبډلې دغه لوبغاړي د غبرګولي په ۲۷مه نېټه د چین، تایپه، پاکستان او سویلي کوریا لوبغاړو ته ماته ورکړه او د سرو زرو مډال یې خپل کړ. د تکواندو فدراسیون د مطبوعاتو مسوول ذبیح الله شهزاد وایي چې د محسن رضايي لوبې په ۵۸ کیلو وزن کې وشوې، د هغه په وینا محسن رضايي لومړنی افغان لوبغاړی دی چې د آسیا له تکواندو سیالیو د سرو زرو مډال ګټي.


د آسیا د تکواندو د اتلولی سیالي د جون له ۱۴مې تر ۱۸مې پورې د لبنان په بیروت کې روانې وې.




## افغان لوبغاړي حضرت الله ځاځي په PSL کې په ۱۷ توپونو چټکه نیمه سلیزه ووهله

د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې مخکښ او ځوان توپ وهونکي حضرت الله ځاځي چې سږ کال د پاکستان کرېکټ په سوداګریز لیګ کې د پېښور زلمي لوبډلې سره لوبېږي په خپله لومړۍ لوبه کې یې د کراچۍ کینګز لوبډلې پر وړاندې په ۱۷ توپونو ۵۰ چټکې منډې وکړې او د ۶۳ منډو په کولو سره یې خپله لوبډله بریا ته ورسوله.

له دې مخکې په ۲۰۱۸ کال کې په PSL کې آصف علي په ۱۷ توپونو او کامران اکمل هم په ۲۰۱۹ کال کې په ۱۷ توپونو چټکې نیمه سلیزې پوره کړې وې.




## افغان لوبغاړي نجیب الله ځدراڼ په PSL کې ۷۱ چټکې منډې وکړې

نجیب الله ځدراڼ چې په سږنیوPSL سیالیو کې د کراچۍ کینګز لوبډلې لپاره لوبېږي د اسلام آباد لوبډلې په وړاندې یې ۷۱ ناسوځېدلې چټکې منډې وکړې. ځدراڼ په ۴۲ توپونو دا منډې وکړې چې په کې ۴ شپږیزې او ۵ څلوریزې شاملې وې.



## یوسف کارګر په کورونا اخته شوی دی

د افغانستان د فوټبال ملي لوبډلې مشر یوسف کارګر په کورونا ویروس اخته شوی دی. د افغانستان د فوټبال ملي فدراسیون دغه خبر تایید کړی او ویلي یې دي چې نوموړي ته د روغتیاپالانو له لورې د قرنطین لارښوونه شوې ده.



## افغان فوټبال ملي لوبډلې له د هند سره لوبه مساوي کړه

د افغانستان فوټبال ملي لوبډله د آسیا جام غوراوي پړاو سیالیو په لړ کې د روان کال د غبرګولي په ۲۵مه نېټه له هند سره لوبه وکړه چې لوبه د افغانستان له لورې د حسین زماني په ښکلي ګول سره له نوموړي هېواد سره په مساوي توګه پایته ورسېده او په دې توګه افغانستان د آسیا ملتونو اتلولی جام دوهم پړاو ته لاره پیدا کړه. دوهم پړاو سیالۍ به د روان زېږدیز کال د نومبر میاشتې په ۱۱مه نېټه پیل شي.



## د رونالډو یو حرکت کوکاکولا شرکت څلور میلیارده ډالره زیانمن کړ

د فوټبال نړۍ نوموتي څېړي کرستینیا رونالډو څو ورځې مخکې په یوه خبري ناسته کې د کوکاکولا بوتل له مېزه لیرې کړ او پرځای یې د اوبو د څښلو لارښوونه وکړه.

د رونالډو له دې حرکت وروسته د کوکاکولا شرکت مسؤلینو خبر وکړ چې د رونالډو په دې کار سره د دغه شرکت ونډه له ۲۴۲ میلیارد ډالرو څخه ۲۳۸ ډالرو ته راکښته شوه چې په دې سره نوموړي شرکت ته څلور میلیارد ډالر زیان اوښتی دی.

# عکسونه خبرې لري











د کابل په شمال کې د برېښنا د ستنو ویجاړول؛ د پلازمیني په ګډون دیارلس ولایتونه په دې وروستیو کې په تیاره کې ډوب وي، زموږ اوبه ګاونډیو ته ورځي، خو برېښنا په پیسو ترې اخلو، په تېرو دوو لسیزو کې د میلیاردونه ډالرو مرستو سره سره د هېواد اوبه مدیریت نه شوې او له دغو اوبو د برېښنا د تولید لپاره ګټه پورته نه شوه. په تېرو دوو میاشتو کې د برېښنا شل ستنې نړول شوې دي، چې له بده مرغه دولت تراوسه ددغه کار په مخنیوي کې پاتې راغلی. افغانستان په کال کې تر ۳۰۰ میلیون ډالر د وارداتي برېښنا په بدل کې بهرنیو هېوادونو ته ورکوي.



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative
Today's Mirror
Tomorrow's Hope




راځئ د غوره
او ټولګټونه نړۍ لپاره جنسيتي
عينکې په سترګو کړو.

نن، 15 نړیوالې رسنۍ جنسیتي مساوات
ته د رسېدو په موخه ننګونې او حل
لارې وړاندې کوي.

#دمساوات_په_لور

A PROGRAM BY

spark news